


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب: د خیالونو جزیره

ویناوال: محمدالله کمال

چاپ کال: ۱۳۸۱هجري لمریز وری- ۲۰۰۲ اپرېل

چاپ ځای: سهار کمپوزنگ سنټر

کمپوزر: پخپله (م. ک)

چاپ شمېر: زر ټوکه

خپرندوی: سهار خپرندویه اداره - پېښور

د مکرر چاپ حق پخپله له شاعر سره خوندي دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترون:

د لوی خدای ج په نامه او بیا...

نن غرمه زه یوازې پر دسترخوان ناست یم

خو دا نن هم د تېرو ورځو په شان په یوه ښکلي خیال وزنګېدم

د انسان ژوند دی، رښتیا هم د سترګو په رپ کې تېرېږي .

غرمه مهال به یې په زینه کې د لکڼې ټکهار جګ شو

پاس به چې راوخوت نو په لوړ آواز به یې په ټولو سلام واچاوه .

بیا به یې د کورنۍ له ټولو غړو سره د روغ رنځور پوښتنه وکړه

ماته به یې د خپلې پخوانۍ لورېنې له مخې وویل: "هغه کتاب متاب دې څنګه شو؟"

زما زړه به د نور کله پرخون ؤ، ځواب به مې ورکړ:"خدای مهربان دی، ډېر زر به چاپ شي".

هغه به د خپل همېشني عادت له مخې پخپله سپینه ږیره لاس لاس راتېر کړ او وبه یې ویل:"بچو رښتیا هم خدای مهربان دی، خدای دې داسې وخت راولي چې ستا د زړه آرمان پوره شي".

هو زما یوه ستره هیله همدا وه چې زما یو وړوکی د شعرونو کتاب چاپ شي .

خو وایي چې تشه لاسه ته مې دښمن یې .

نن بیا په هماغه ځای په کوټه کې ناست یم، خو د خیال له نړۍ نه مې د شرارتي وراره په کړسنده خندا را ووځم .

زه یوازې دې ته انتظار وم، چې د لکڼې ټکهار به واورم او بیا به ورته وایم: "پلاره کتاب مې نن چاپ ته ورکړ"!

او ...... او چې کله را په خود شوم، نو هغه د هجرت په دیار د تورو خاورو مېلمه ؤ .

ما زړه مات نه کړ، ځکه چې د پردېسۍ او مهاجرت مرګ شهادت وي .

او....

او په همدې خیال مې زړه را غونډ کړ ومې ویل" :پلاره ستا په نامه"

م. کمال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښاغلي کمال شاعري

زه د يوه واقعيت له مخې، پر ځان د اوسنيو ډېرو ځوانو شاعرانو پور بولم، چې پردې اعتراف وکړم چې ډېره ښه شاعري کوي او په ځانګړې توګه د پښتو غزل په ځنې اوربل کولو کې يې خپل نقش ښه ترسره کړی دی؛ خو که خوايې نه بدېږي پر هغوی د داد ورکولو تر څنګ يوه نيوکه هم لرم او هغه دا چې له يو شمېر دغسې شاعرانو نه ځان ډېر ژر ورک شي، دا د کومې رخې خبره نه ده بلکې غواړم چې دغه ډول ځوانو شاعرانو ته ورپه زړه کړم چې که د خپل فن تر څنګ له لازم انکسار نه هم کار واخلي او مازې پر يوه پچه ورختلو سره کشمير ونه ګوري دا به يې د فن او شخصيت دواړو په پخلي کې لا پسې اغېزمن جوت شي .

له هغو ځوانانو نه چې په لږ عمر کې يې د شعر د بام د زينې ډېره برخه په چټکتيا سره ووهله، يو هم ځوان محمدالله کمال دی. زه خو چې پخپله تر کومه حده ددې خبرې عيني شاهد يم، د ښاغلي کمال، له شعر او شاعرۍ سره يې کچه مينه، مطالعې او ممارست، د هغه د شعر ماشوم ډېر ژر د ځوانۍ مرحلې ته ورساوه، زه نه غواړم د کمال بې ضرورته ستاينه وکړم او بې وخته يې د غرور په نيلي سپور کړم، خو تر کومه يې چې حق دی بايد هغومره داد ضرور ورکړل شي .

د ښاغلي کمال مينه له غزل سره ده او چې رښتيا خبره وي نو غزل خو د ټولو شاعرانو په متفق عليه پرېکړه د شعري انواعو پاچا ګڼل کېږي، په اوسني غزل کې زه په ځانګړې توګه د ځوانو شاعرانو په غزل کې ډېر څه ګورم چې د غزل په ښکلو او رنګينو الفاظو او تعبيراتو کې يو سياسي، تاريخي او ټولنيز واقعيت په دومره ظرافت سرا روړل شوی وي، چې د سړي زړه غواړي بيا بيا يې ولولي، چې د شعر لويه کاميابي همدغه جذابيت دی او همدا جذابيت شعر تلپاتې کوي، په دې باب د فارسي ادب نوميالی شخصيت ملک الشعرا محمد تقي بهار څومره ښه وايي :

شعر آن باشد که خيزد از دل و جوشد بلب

باز بر دلها نشيند هر کجا گوشی شنفت

راځئ چې خپله پورته ادعا د ښاغلي کمال په شعر کې وګورو :

ذهن کې دې جوړ کړم بېرته رنګ شې د کابل په څېر

زړه ستړی دې کړمه اعتماده ته اوس پرې يې

...)غزل (

دغسې ببلګې د کمال په شعر کې ډېرې دي چې زه يې په همدا يوه بسنه کوم .

چې کله خبره د اسلامي سپېڅلې ګروهې شي، نو هم کمال د تخيل او ښکلا لمن نه خوشي کوي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو لښکر د ببر ځنو به را مات شي

د وطن له دنګو غرونو نه و ښارته

ډول به درز وهي سندرې به را واخلي

ځنور غازیان به اوړي یکه زار ته

سمه غر به مینه مینه محبت شي

ښایستونه به رانجه پورې کا یار ته

د سندرو به جادو خوره شي ښار کې

مرګ به ځوړند شي د ژوند په لویه لار کې

...)د شهید آرمان شعر(

د شاعرۍ کمال همدا دی چې موضوع ښه انتخاب شي او بیا په رنګینو، مخیلو او شاعرانه الفاظو کې بیان شي، راځئ وګورئ دا غزل :

په شوندو کې موسکۍ نغمه سرای را یادوي

ښایست یې عجیبه دی زړه کې خدای را یادوي

دا تور چاینک له مخې لرې کېږده نن آشنا

د لوړ چینار تر سیورې لاندې چای را یادوی

د شنو سترګو خاوندې ته چې ګورمه شم خوښ

د سرو روسانو تېښته کې "دوای" را یادوي

د کلي د خان زوړ واسکټ مې نه شمه لیدای

د ښکلي کابل سترې نان ګدای را یادوي

یا یې دا غزل؛

لکه بلبل چې په یوه ناره ګلزار ونیسي

داسې د ښکلي یار نغمه د زړګي ښار ونیسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په راتللو خپه نه یم غرنیه آشنا

خپه په دې یم چې د سمې غله به لار ونیسي

کوډګره حسنه لږ زموږ پر سیمه ګام را واخله

چې پاړوګر د عشق کوڅې ښامار ښامار ونیسي

زموږ پر کلي به خوښي دوباره هله راځي

چې د ګودر غاړې منګي کتار کتار ونیسي

نه مو وږمه د بهار حس کړه نه د ښکلي سهار

د محبت څانګې به څه رنګ د ګل بار ونیسي

که دې کاته د محبت وو ښایسته جانانه

کمال به شعر د چامبېلو درته هار ونیسي

کمال په خپل شعر کې اجتماعي موضوعات په ډېره ښایسته، نقادانه، شاعرانه بڼه را اخیستي دي، د دښمني تر سرلیک لاندې شعر یې وګورئ :

چې سترګې غړوو نو هرې خواته دښمني ده

د لوړو لوړو غرونو مخکې شاته دښمني ده

خو د شاعرۍ لاره ډېره اوږده وي او جهان یې ویږ، همدا لامل دی چې ادبپوهان نن په دې عقیده دي چې شعر د تعریف په لنډه او تنګه څولۍ کې نه ځایېږي، نو پر همدې اساس د هر شاعر په مخکې مزلونه دي او چې د کمال په څېر د عمر له پلوه کمکی هم وي، نو هغه خو به ډېر مزلونه وهي. زه باور لرم چې کمال به د شعر او لیکوالۍ که په همدې مینه یې تعقیب کړي لکه دا اوس، ډېره ښه ګانده ولري. حوصلې یې سترې مه شه .

درنښت

استاد فدا محمد فایض

۱۳۸۱/۰۱/۱۵

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کمال د خیالونو جزیره

ما چې غوښتل د ګران محمدالله کمال د خیالونو پر جزیره څه ولیکم، د هېواد د درانه او پاخه شاعر ډاکټر محمد اکبر اکبر پر (مراندې) مې دده د درانه پلار ښاغلي ننګ یوسفزي صیب سریزه را یاده شوه، په هغې کې ښاغلی ننګ صیب لیکي چې یو وخت به که اکبر کوم شعر ویلی ؤ او چا ته به یې وښود نو ویل به یې چې دا یې پلار(ننګ) ورته جوړ کړی دی. خو اوس چې زه کله کوم شعر لیکم نو خلک بیا تبصره کوي چې دا اکبر ورته لیکلی .

ښایي دا به ډېرو لوستونکیو د ښاغلي ننګ یوسفزي لخوا د خپل زوی د هنر او کمال یو ډول ماهرانه ستاینه بللې وي، نه د هغه پر کمال رښتینی اعتراف، خو زه چې اوس د خپل ګران کشر ورور په باب له هماغسې حالت سره مخامخ یم د ښاغلي وکیل صیب ننګ یوسفزي پر رښتینولۍ هم اعتراف کوم او د ګران کمال پر کمال هم چې د خیالونو د جزیرې رازونه را سپړي .

زه د خیالونو د جزیرې پر شعري معیار څه ځکه نه وایم چې ځان په شاعرانو کې نه شمېرم، بل دا چې واقعاً زما د یو وخت د ګوډې ماتې شاعرۍ تر اوج د ګران کمال د شاعرۍ پیل ډېر شاعرانه او ښکلی دی .

ښایي زما پر دې خبره د ډېرو باور رانشي چې کله به کمال ماته خپل کوم نوی شعر وښود، نو د سپېدې ادبي مجله او د شاعرانو ټولګې به مې په ذهن کې را تېرې کړې، چې دا به یې خامخا له کوم ځای څخه را اخیستی وي او لږ لاندې باندې کړی وي، او اوس یې پر ما د شعر په نامه تېروي، کله کله به مې د ادبي غلا په اړه هم تر ژبه لاندې څه تر غوږ ور تېر کړل، خو تندی به یې له غوسې تک تور شو او ټینګار به یې کاوه چې دا مې خپل شعر دی .

رښتیا به یې درته وایم چې ما په خپله ټولنه کې د شاعر او لیکوال بې قدري لیدلې ده، بې وسۍ او بې کسۍ مې یې پر خپل ځان لمس کړې دي، ګران کمال ته مې څو څو ځله په ټینګار ویلي دي چې د شعر او ادب لمن پرېږده، دا له ازغیو ډکه لاره ده چې ژوند به دې وخوري خو سود به پرې ونکړې. خو کمال رښتیا هم د ویلو لپاره څه درلودل او لري یې .

څوک چې په زړه کې څه د ویلو لپاره لري، خامخا به یې وایي، دا به وروسته بیا معلومېږي چې څوک غوږ ورته نیسي او که نه؟

په هر صورت زما خو ډېر وروسته باور راغی چې کمال کومه د خیالونو جزیره موندلې او پکې بوخت دی، دا دی ددغې جزیرې د خیالونو لومړی ګېډۍ ستاسو په مخکې ده .

محمدالله کمال زما کشری ورور دی، ښایي دده هره خبره پر ما خوږه ولګي، خو د خیالونو په جزیره کې یې داسې خبرې هم شته چې ښایي په ډېرو خوږې ولګي، زه یې دلته یو دوې لنډې نمونې راوړم:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یو داسې انځورګر یم

چې روغ زړونه مې په کار دي

د ښایست انځورګري کړم

ځو رنګونه مې په کار دي

خو دا ډېره موده کېږي

چې له مینې تور دي زړونه

نو په داسې حال کې یاره

چېرته نشته دي رنګونه

ځمه ځمه مخ پر وړاندې

لټومه د ګل ځانګه

ګوندې خدای یې په لاس راکړي

غنیمت د حسن پانګه

توره شپه کې وړاندې ځمه

بل په لاس کې مې مشال دی

هغه لمر را ځنې ورک دی

چې یې نن درویشتم کال دی

...)انځورګر(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا يې وګورئ دا غزل :

په هجر کې چې کله خورِ جانان را په یاد شي

د وصل په اسره زړه کې یزدان را په یاد شي

بې واره مې له خولې کلمه وځي خدایه خیر!

پر ماین پوښلې لاره چې اوښان را په یاد شي

له تورو غټو سترګو نه چې اوښکې شي را زېر

د ښکلي وطن شړکنده باران را په یاد شي

یوه لحظه د سولې ښاپېرۍ په خیال کې راشي

په بله د جنګونو تور دېوان را په یاد شي

ملاله به اوس چاته ټپې وایي د میوند

چې تښتي الوتکه کې افغان را په یاد شي

زه څوک یم او څنګه داسې خاورې شوم د پښو

اف ګل یم رژېدلی یم خزان را په یاد شي

ناپامه چې د خیال له شمې تاو شم که پتنګ

چې وسوځم کماله بیا خپل ځان را په یاد شي

یا دا چې :

لمر نه دی غلت مو د خوبونو ها تعبیر دی

دا خو اور اخیستی هسکې څوکې د پامیر دی

مه راځه سپرلیه د راتلو لیارې دې نه وینم

تاو ترې تور دېوان دي ښایسته وطن اسیر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ خو د سهار ستوری په تور افق کې نه وینو

تا بیا د راتلو نیولی څه شانې تدبیر دی

ګل خو د بل بل له سندریزو غاړو ساه اخلي

دلته دي کاغ کاغ ناري تور زاغ مو د باغ میر دی (.... پسرلی)

زړه مې غوښتل چې نورې نمونې يې هم راټولې کړم، خو ماته د ګران کمال د خيالونو ددغې جزيرې هر ګوټ ښکلی دی چې د نمونې انتخاب يې راته ګران دی .

له ستر رب(ج) نه د ګران کمال د هنر او کمال اوج غواړم، په ګوتو او قلم يې برکت شه .

درنښت

محمدزبير شفيقي

سردار احمد جان کالوني، کرايي کور

د ۱۳۸۱کال د وري ۱۷مه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمال د خیالونو په جزیره کې

ښاغلی محمدالله کمال د افغان ادبي بهیر یو فعال غړی دی، له ژبې او ادب سره یې ژور تړون د پاللو په هڅه او هاند کې بریالی وینم، مایې د خیالونو جزیره وکتله، ډېر څه مې په کې فکر ته راغلل؛ مثلاً :

ژبه یې ساده او معنا سپېڅلې ده؛

د پښتو شعر اصالت او رسالت په کې خوندي دی- ویاړنه هم لري او حماسه هم؛

داسې نښې نښانې په کې شته چې د شاعر څه ناڅه ځانګړتیا ښیي؛

د خوف او رجا تلقین په موازي او برابره توګه کوي؛

د سرور سندرو ورڅخه ویرنې نه دي هېرې کړې؛ لنډه دا چې د وینا سکه یې د پیغام پشتوانه لري .

سره له دې چې ښاغلی کمال د خوبونو خبرې ډېرې لري، خو چورلټ په خوبونو کې نه اوسېږي. رابطه یې زیاتره له حقیقي عالم سره ده، په بله ژبه، په خوبونو کې اوسېدا یې له ویښې سره نا انډوله نه ده، ښایي همدغه ټکي یې د وینا د زیاتې رنګینۍ مخه ډب کړې وي .

د ښاغلي کمال دغه شعرونه د شکل له مخې په لاندینیو ټولګیو کې دي :

غزل

مثنوي

چارپاره او چند پاره نظمونه

آزاد نظم

د ښاغلي کمال په ځینو نظمونو کې کیسه ییز هیأت او ماهیت بیخي جوت دی او دغه مواصفه عمدتاً د نظمونو د بریالیتوب متضمنه ده. د شعرونو نمونې یې ځکه نه در کوم چې یو خویې درسته مجموعه ستاسې په وړاندې ده او بل دا چې د خپل یادداشت له پرسولو سره هم چنداني شوق نه لرم .

د خیالونو جزیره د سکښت او سکڼ (ترتیب او تدوین) له پلوه، زموږ د کتابي یا دېواني کلچر د مقرراتو امینه ده، وګورئ چې آغاز یې له حمد او نعته کېږي .

د ښاغلي کمال د وینا د شعریت په باره کې زما تأثر دا دی، چې که شعر درد او خوږ وي، نو دده په وینا کې ښه ډېر دی، که شعر د زړه غږ وي نو د خیالونو په جزیره کې نه یوازې د کمال بلکې د ټول افغان ولس د زړه غږونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزانګې کوي؛ او که شعر یوازې وزن او آهنګ وي، نو هغه هم لري. زه ورته تش دومره یادونه او سپارښتنه کوم، چې په خپله شاعرۍ کې دې له ټولو حواسو کار واخلي .

په درنښت

نورالحبیب نثار

۲۰۰۲/۰۴/۰۳

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سريزې پر ځای څو خبرې او مننې

ددې ټولگې په اړه دومره وايم چې زما لومړنۍ تجربې دي، او چې لومړي شعرونه شول نو بيا خو خامخا د ډېرو تېروتنو احتمال يې شته دی، زما يقين دی چې په دې ټولگه کې ډېر داسې شعرونه راغلي دي چې نه نظم وي او نه هم د نظم تر څنگ ورتېر وي، خو د نظم په برخه کې به راغلي وي، ښايي ډېر غزلونه، غزلونه نه وي او د غزل په برخه کې راغلي وي .

زه د خپلو شعرونو په هکله نور څه نه وايم، بس د خپلو مشرانو، محترم استاد فدا محمد فايض صاحت او محترم نورلحبيب نثار صاحب نه له دې امله ډېره ډېره مننه کوم چې زما پدې شعرونو يې په ډېرو لنډو او تنگو شرايطو کې ليکنې وکړې او يو ځل بيا له دوی څخه د زړه له کومې مننه او کور ودانی ورته وايم .

له گران صالح محمد صالح صاحب نه ډېره ډېره مننه کوم چې ددې کتاب پر پښتيو يې ډېر زحمت وکيښ، ښکلې يې جوړې کړې، پر استعدادونو يې برکت، خدای(ج) دې لوی اجرونه ورکړي .

همدارنگه له خپل درانه ورور محمد زبير شفيقي نه هم مننه کوم چې په يوازې ځان يې زما د پالنې درانه پېټي اوچت کړي دي، ددې ټولگې په اړه يې دا نظر چې دا شعرونه يې تر خپلو هغو چې د مقدسو ولولو او حساساتو ترجماني يې کوله غوره گڼلي، زه يوازې دا د يوه مشر د شفقت او مهربانۍ له مخې يو ډول انکسار گڼم چې د کشر لپاره يې لازم گڼي .

په پای کې په عام ډول له افغان ادبي بهير او په خاص ډول له محترم استاد محمدصديق پسرلي صاحب او محترم پير محمد کاروان صاحب نه له دې امله ډېره ډېره مننه کوم چې به نېکو مشورو او لارښوونو يې نازولی يم او ځان ددوی د زياتې مينې او لورېينو پوروړی گڼم .

په درنښت

محمدالله کمال

۱۳۸۰ /د وري ۳۰مه

پښتونخوا، پېښور

د سهار ورځپاڼې دفتر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونه

بسم الله الرحمن الرحيم

## حمد

په ظاهره يې که نه وينم په نښو خدای ته ګورم

چې په شپه کې پاس بې ستنو نوراني سمای ته ګورم

بس قهار مې را په زړه شي او له ويرې مې زړه ريږدي

چې په برندو سترګو کله د وطن ګدای ته ګورم

د رزاق محبوب وجود کې څکه شک له زړه نه وځي

چې د هجر په کوڅه کې و سخي نانوای ته ګورم

د لطيف ذات پېرزوينه مې دا نرمه شاعري ده

پرې د عشق له دريڅې نه د ګلونو سرای ته ګورم

۱۳۷۸/۱۲/۸

## د سپېڅلي پيغمبر

## حضرت محمد ص د مبارک مېلاد په مناسبت

## د لوی خدا ج پېرزوينه

هغه وخت چې په تور تم کې دا نړۍ وه

مروره ترې د امن ښاپېرۍ وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زېرى وشو چې څراغ به شي روښانه

هغه وخت چې هرې خواته ترورېمۍ وه

په نفرت هغه ګړۍ کفن شو څيرې

چې روښان د محبت مينې څراغ شو

چې انسان ته ټول تياره جهان رڼا شو

چې جهان د انسانيت يو ښکلی باغ شو

د ماڼيو پاچاهان يې سلامي کړل

د فقيرو ملنګانو په لښکرو

او بنده يې د بنده له قيده خلاص کړ

د يزدان په ازلي نرمو خبرو

چې حبش غلام سردار د قبيلې شو

او د ظلم د سردار غرور يې مات کړ

چې د عدل د نظام تاداو يې کېښود

د سرکشو د سالار غرور يې مات کړ

چې کالبوت ته يې د روح بځرى ورکړ

او ژوندون يې په مرګونو برياله کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د زغم د بنیاد تیږه یې پر ځای کړه
او انسان یې په غمونو بریالی کړ

چې د شاه او د ګدا تر منځ واټن یې
بس د سر د یوه وېښته هومره نری کړ
چې غلام ته یې اختیار د زړګي ورکړ
او په توره کې یې تېز لکه زمری کړ

دا هر څه چې وو پېرزو د لوی خالق وه
چې سپېڅلی پیغمبر نړۍ ته راغی
چې تیاره زړونه په نور کاندي روښانه
محمد خیر البشر نړۍ ته راغی

که د خدای رضا وه
که د خدای رضا وه دا شپه به سهار شي
پسوللی به په حسن کلی او ښار شي

دا سپېرې د غرو لمنې به ګل ګل شي
په مېره به وږم خور د نوبهار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وچې دنگې ځانگې د گلونو

خمیده به د گلونو په انبار شي

تور کارغان به له دې بڼه ځنې تښتي

گونگ توتیان به بې له ځنډه سندرمار شي

دغه شاړې کروندې به په یوم واوړي

دا رودغاړې به ځنګل چینار چینار شي

پدې کلي به د ښکلو نجونو شور شي

مازدیگر به په گودر منگي کتار شي

د غاټول او د ریدي گلان به خاندي

ترینه جوړ به د حسینې غاړې هار شي

هر یو ځوان به یوسفي حسن ور خپل کړي

زلیخا به هره پېغله د دیار شي

د شپونکي په سپېرو شونډو به موسکا وي

دا کنه شپېلۍ به بېرته په چغار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوړ او ځوان به په سرور لېمه لامده کا

وير به پښې واخلي له زړونو به فرار شي

په غزل کې به شراب ور باندې وڅښو

توپ او ټانک به برې نشه کړو چې مهار شي

دا په توپ سوري سوري لوړ دېوالونه

بيا ودان به د ځوانانو په يادگار شي

د شهيد جومات محراب به بېرته جوړ کړو

اسمانڅک به يې د بانگ هاغه منار کړو

د شهيد ماشوم به ونيسو په غېږ کې

د پلار نکل به يې کاندو چې هوښيار شي

په اسلام کې به په خلاصو متو اوسو

شکسته به سره کفار او تور کفار شي

لال به ونيسو د سره چل به پرې وکړو

مومن خان به بيا غالب په تور ښامار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایمان په زور به کروز توغندی مات کړو

ملا به ماته ددې دهر د اغیار شي

هاغه خولې به د همت په سوک شي ماتې

چې جاري پرې بیا د غدر زوړ شعار شي

چې د غیرو بنده ګۍ ته څوړند سر وړي

دم ساعت به یې انجام مرګونی دار شي

د کمال د خوب تعبیر به رښتیا کېږي

په ډېرو به یې کښلي دا اشعار شي

## د شهید ارمان

توره شپه وي خوب مې وزنګوي یاره

نو را ړنګ شمه په ځای کې بې اختیاره

چې له ورکو شهیدانو نه په خوب کې

یو حسین (رض) په موسکا راشي په کراره

را ته وایي صبر صبر مسافره

څه کیسه درته کومه ترسهاره

د شل کالو پخوانۍ کیسه را واخلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل عمر د ځوانۍ کیسه را واخلي

راته وایي داسې وخت ګله راځینه
چې ژوندون به سراسر شي مینه مینه
دا روسی برګۍ به لاس ته زمونږ راشي
بیا که تېل نه وو ور وا به چوو وینه
وچکالي که وه د غرونو غاټول ترې
نو اوبه به دا برګۍ ور اوروینه

زنده سرې د کهول به ترې نه وي
پاس د غره پر سر غاټول به ترې نه وي

یو لښکر د ببر ځنو به را مات شي
د وطن له دنګو غرونو نه و ښارته
ډول به درز وهي سندرې به را واخلي
ځنور غازیان به اوړي یکه زار ته
سمه غر به مینه مینه محبت شي
ښایستونه به رانجه پورې کا یار ته

د سندرو به جادو خوره شي ښار کې
مرګ به ځوړند شي د ژوند په لویه لار کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام په اشاره به غازیان راشي

د وطن په رود به وکا اودسونه

سجده رېز به د خالق په در کې لوېږي

بیا به پورته په دعا کاندي لاسونه

نو به وایي د جهان مالکه راکړه

د ایمان په مرغلرو ښکلي زړونه

د رحمت باران به در وهي له پاسه

په ایمان به زړونه پاک شي له وسواسه

خدای به داسې د شهید له وینو پورته

د وطن په هره دښته کې غاټول کړي

یو ګلچین د محبت به پرې را پېښ کړي

نو تنکي غاټول ګلونه به را ټول کړي

داسې هار به ترېنه جوړ کا زما یاره

چې په یو نظر وګړي غزلبول کړي

د وطن د آزادۍ په پېغله غاړه

هار به زانګي بیا به نه وي داسې شاړه

انتظار ځېلې سترګې به را ډنډ شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سروره به دوه ځاځکي ترې را توی شي

د ګرېوان ویجاړه لاره به رانیسي

خو چې پښو ته را رسېږي نو به لوی شي

دا دوه ځاځکي به د ژوند پهلوانان شي

ویر به ځملوي هر خوا به هیاهوی شي

د سرور پهلوانان به دومره ډېر شي

چې ویرونه به له ټولو ځنې هېر شي

د وطن تنکي زلمي او نجونه

ځان به داسې برابر د ژوند په آب کا

د حیا خومار به نجونې اوروینه

له زلمیو نه به هېر نشه شراب کا

د بابا د اشارې به انتظار وي

چې څه وکا ندي او څه شی انتخاب کا

د سپین ږیرو احترام به را ژوندی شي

په مرګونو ویده قام به را ژوندی شي

نه پوهېږم نور یې څه وېل زما یاره

د وطن شهید لګیا زما لپاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د خپل کاله پر بام باندې ویده وم

درز را ویښ کړم د برګیو شنهاره

شیبه پس مې د لیدلي خوب تعبیر کې

د ځوانیو جنازې وتې له ښاره

د شهید د زړه آرمان خو داسې نه و

په سرو وینو لیک داستان خو داسې نه و

۱۳۷۹/۵/۱۵

کابل پوهنتون، مرکزي لیلیه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظمونه

خپل مشر ورور محمد زبیر شفیقی ته د یوه لیک په څواب کې

دا کیسې دی څومره ډېرې

زه هم ځوان وم ته هم ځوان وز

دا زما په خبر انسان وې

خو توپیر مو صرف بدې شی

ته غازی وې قهرمان وې

زه د بل د در گدا یم

ته په خپلو متو خان وې

زه رنځور د چا د مینې

ته عاشق د لوی سبحان وې

یه زما باتوره وروره!

یه زما د سترگو توره

څه کیسه درته کومه

د خبل زړه له رنگه انځوره

د دې لوړو لوړو غورنو

د سیندونو ډک شوره

د غونډیو د شنپلیو

او زموږ له کلی کوره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زموږ به خاوره پاکه

مينه ناکه مينه ناکه

سرو روسانو وو دانګلی

بې ادراکه او بېباکه

بې ادراکه او بېباکه

ته په بيره کور ته راغلې

تا وېل مورې ټوپک راکه

يا به ځان قربانومه

يا به روس شړم له خاکه

زه وړوکی د مور غېږ کې

کلک ويده ومه بې خاره

تا کيسه کړه مور ته تېره

مورکۍ وژړل بې واره

راته ښاخکی يې د اوښکو

شول راتويې له رخساره

ما هم ټوپ کړل خوب مې ولاړو

په ژړا شومه له ډاره

تا وېل: مورې ! کشره وروره!

په ژړا باندې څه کېږی؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وطن پرې ګټل کېږی

نه غلیم پرې نابودېږی

بس تکیه په خدای په کار ده

چې یې مرسته را رسېږی

چې هر کار یې په لحظه کې

او د سترګو رپ کې کېږی

ته بهر له کلی وځې

د زلمیو به کتار کې

ما وېل ما هم درسره کړه

د تنکیو په کتار کې

چې ججورې ډکومه

له مرمیو په کتار کې

یا اوبه درته راوړمه

د جلکیو په کتار کې

بس همدا زما هوس ؤ

چې یو ځلې واخلم بری

چې غلیم ته مخامخ شم

په اوبو یې یوسم مری

وروره ستا به که یادېږی

دا ارمان مې ډېر ؤ کړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا به ویل راته ورورکه!

ته وړوکی یې نیمګړی

ببر څټی چنګ برېتونه

د وطن د ننګ مېړونه

چتې پېغلې زړورې

میوندی یې تاریخونه

یوې خواته صف ولاړ دی

د زمرو به شان یې زړونه

بلې خواته درنې زغرې

الوتکې او ټانګونه

نغاره د جنګ ډنګېږی

د تکبیر د نارو شور کې

به دوعا اوچت لاسونه

د ورو زړو په کور کې

غړمبهاری درزهاری

ټول وطن رېږداوه زور کز

د ستم د اور څپه وه

هره خوا شوه تپ او تور کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمر مو ولوېد غرونو شاته

رانه ورک شول د سر سیوری

ځلېدونکی اسمان څه ؤ؟

ترې را وغورځېدل ستوری

بس تر تورو خاورو لاندې

شول یو نیم میلیونه ستوری

ارمانجن یې زړونه وینم

ټول خبه دی نه راګوری

د وطن د هسکو غرونو

ګړنګونو مجاهده

ستا عظمت ته مې سلام دی

د وختونو مجاهده

د کفارو مقابل کې

د مرګونو مجاهده

کیسه خلاصه نه ده وروره!

یه د زړونو مجاهده

هله هله، هله هله

زه هم ستا په شانته ځوان شوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیالونو په میدان کې

د غورځنګ یو پهلوان شوم

ما وېل وروره ټوپک راکړه

چې دا زه هم ستا په شان شوم

ته دې دمه کړه را جوړه

زه روسانو ته توپان شوم

تاوېل: ګرانه خبر نه یې؟

مات زمونږه دښمنان شول

له آمو دریابه پورې

سره روسان په ګرېزان شول

خو افسوس چې په لستوڼی

کې را لوی داسې ماران شول

چې ما وژني او تا وژني

ها یاران مو غلامان شول

یه زما د سترګو توره

زما مشره زما وروره

له شپېلۍ دې ټوپک ونیو

را اېله دې کړ په زوره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کمره دې برابر کړ

بند به بند مات شو له زوره

تا وېل بس ده نوره بس ده

له قلم به غواړو سپوره

زه حیران پاتې شوم ځکه

چې ټوپک ولې پر ځمکه

دغه چا درسره وکړل؟

او له چا دې راغله کرکه؟

ستا تکبیر ناره هر ځای وه

اسمانځکه اسمانځکه

زه بر تان باندې شکمن شوم

معافی غواړم له شکه

زه ساده د چا په مینه

لېونی شوم او ښکار شوم

پاڼې ته وختم د مینې

چا ډیکه راکړه گوزار شوم

وروره شل مې تصور کړه

نه د کار شوم نه د بار شوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس خیالونه دی او زه یم

اف دا ولې د چا یار شوم

زه پوهېږم دا تقدیر دی

بس په زړه مې نقش تصویر دی

نه هغه؟ په لاس راځینه

تش را پاته یې غم ویر دی

نه به ګوتو شلېږی وروره

را لوېدلې تور زنځیر دی

ناکراره مې زړګی دی

ما لیدلی دعشق پیر دی

یه زما د سترګو توره

زه چې پاته په کابل شوم

ته پردی وطن ته لاړې

زه شاعر شومه بدل شوم

په رګ رګ مې راګ د وېر دیـ

هر نفس نفس غزل شوم

مالیدلې یوه حوره

آشفته یې په وربل شوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا مې زړه ته ګوتې راوړې

مینې پټې لېونۍ کړم

واخ د زړه پر سر یې کېښوه

اف سکروټې لېونی کړم

وروره سپین به درته وایم

پېغلې چټې لېونی کړم

د دنیا په کاروبار کې

ګټې وټې لېونی کړم

هاغه پېغله لکه حوره

چې لیدلې ما وطن کې

دا وطن آزادی بویه

ما حس کړې پخپل تن کې

سهیلۍ یې سیاله نشته

نه کشیر او نه ختن کې

نو عاشق یې کړم بې واره

رنګ و بو یې په ګلشن کې

نازنینه پاکه سپینه

د وطن آزادی مینه

زه یې ویلې کړم که شمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واه له شاتو ده شرينه

زما وروره زما مينه

چا رنگينه كړه په وينه

د نفاق ښامار پرې راغې

زما مينه رېژوينه

د وطن پېغله ژړېږي

نيم تېكرۍ يې اوښكو وړې

د گودر خواكې سپين ږيرو

په اړو كړ د ځوان مړى

تور زنگن پخپلو وينو

يې په څنگ كې ايښى بړى

وروره دغه زمونږ حال دى

بس ارمان مو امن كړى

نه پوهېږم زما وروره

چې به زما ارمان پوره شي

په نيمگړې زنده گۍ كې

به د چا ارمان پوره شي؟

نه د پير نه مريدانو

نه د شاه ارمان پوره شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دنیا په شی را ړنگه

که د چا ارمان پوره شی

خو:

که تر خاورو لاندې ستورې

را بهر شي برالا شي

دغه کار په قلم کېږی

چې دا تت اسمان رڼا شي

چې لمر څرک وهي له غرونو

مرور به به را پخلا شي

او زموږ په مړاوو زړونو

د سرور څپه به راشي

نو؛

زما وروره بختوره!

زه خو هسې د کار نه يم

ته قلم را واخله ليکه

زه د وسې د کار نه يم

نه پوهېږم په رازونو

د غومبسې د کار نه يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهاد کیسې دي لیکه

زه د وسې د کار نه یم

ته هماغه یې تر اوسه

مجاهد یې قهرمان یې

ته "شاهین" ددې ولس یې

ته "طاهر" یې خو لا ځوان یې

د "خالد" په رنګ سړی یې

د "نعیم" غوندې انسان یې

د "قاسم د زوی" په څېر یې

ته زبیر د میدان یې

دا کیسې دي څومره ډېرې

په دېوان کې نه ځایېږي

په غزل کې نه ځایېږي

په داستان کې نه ځایېږي

په ناول کې نه ځایېږي

په رومان کې نه ځایېږي

په دا ګرده کتابونو

د جهان کې نه ځایېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یه زما باتوره وروره

ته ددې اولس اتل یې

یار د قام د شهیدانو

گام پر گام ورسره مل یې

ته غمخور ددې اولس یې

هر غلیم ته یې اجل یې

زه به څه وایم چې څوک یې؟

خو زموږ "وروستی مورچل" یې

د گران فاروق جان په ویر چې د ژوند مجبوریتونو د ټوپک اوچتولو ته مجبور کړ او بیا د نامقدسې جگړې ښکار شو

## مرور

شپه ده شپه ده توره شپه ده

خوب د ځوان له سترگو تښتی

د پنجاب د سفر غږ یې

په زړه خښ دی لکه غشی

اف دا شپه څومره اوږده شوه

اف دا څه وخت به سهار شي

چې پنجاب په لور روان شم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونډې وي چې بخت بیدار شي

لټ په لټ په ځای کې اوړي

خوب له سترګو تللی پاس دی

بس له ځانه سره وایي

تور پیشو ښتېلی لاس دی

شپه سهار شوه شپه سهار شوه

مساپر پنجاب ته ځینه

د ورکوکي زوی تندی یې

یو ځل شکل کړلو په مینه

په سلګیو ماشوم وایي

آغا ماته شیان لاوله

موټرک به ماته اخلې

ماته ژاوله ماته ژاوله

پلار یې ووې بچو بس که

تاته ډېر شیان راوړمه

چې پخپله منډه واخلي

موټرک به جان راوړمه

مساپر له کوره ووت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیخ پنجاب په لور روان شو

د خیالونو په دنیا کې

دا زموږ د کلي خان شو

پوره میاشت یې پنجاب پل کړ

مزدوري یې پیدا نه کړه

چې د کور چاره پرې وکړي

څه خواري یې پیدا نه کړه

د پنجاب یوه خان ووې

مړه خوار شې کابلیه

راځه ما سره مزدور شه

ښه دې ساتمه سړیه

بس په ګېډه به ښه موړ وې

دغه مېښې به را پیایې

ماشومان چې سکول ته ځینه

ته به دوی درسره بیایې

مساپر له غوسې سور شو

وې یې یه مغروره آورې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به کور ته ځه ور ورمه

سپېرې خاورې سپېرې خاورې

مساپر په پردی خاوره

ډېر مایوسه شو حیران شو

چې اوس څه وکاندي خدایه

په راتللو پښېمان شو

په هماغه لاره ستون شو

چې په کومه و راغلی

کور ته داسې حال کې راغی

ویر ځپلی، زړه داغلی

کور کې مور یې انتظار وه

چې روپۍ به مې زوی راوړي

د پلاني به قرض پرې خلاص شي

او په بل به مو څه واوړي

ښایستوکی ژبغړاندی

بچی خاري د پلار لارې

چې یې پلار په خیال کې راشي

له خوښۍ وهي کوکارې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې کور ته ځوان راستون شو
ترې نه تاو شوې مور او خویندې
چې یې حال ورته مالوم شو
پرې را برګې شولې خویندې

د پلاني پلاني قرضونه
په څه خاورو به خلاصېږي
نه دې لوېشت ځمکه پټې شته
نه دې کار ته لاس غړېږي

اوس به څه ورته بانې کړو
اوس خو وایي قرض ادا کړئ
سره او سپین چې یې راوړي
هغه مورې ته پکې راکړئ
مساپر له ژونده سترې
ژېړ ولاړ دی لکه مړی
وایي خدایه دا څه حال دی
دا یو زه غمونو وړی
لا یې دمه راسته نه وه
چې له کوره مرور شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ژوندونه يې پښېمان شو

زړور شو، زړور شو

د غمونو په تالاب کې

کله هېر چې ترېنه ځان شو

د سالنګ جنګي ډګر ته

ټانګ ته وخوت ور روان شو

درز په ټانګ ګولۍ شوه سيخه

فاروق ولګېد په تشي

مرور تسليم شو خدای ته

د اجل په سپېره غشي

په تور سرې حوره باندې

چې د کونډې نوم شو پورې

پښې يې شلې شوې اودې شوې

په بې وسه بدن پورې

مور او خويندې په فرياد شي

مرور چې ور په ياد شي

اوس به کله ور پخلا شي

چې وران زړونه يې آباد شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبغږاندی زوی يې ژاړي

آغا ولې نه راځينه

ماته ښکلي ښکلي ښکلي

شيان ولې نه راوړينه

يو ارمان چې پوره نه شو

په نيمګړې دنياګۍ کې

دا زمونږ د ژوند کيسه ده

پدې سترې زنده ګۍ کې

۱۳۷۹/۱/۲۴ -چک وردګ اله خيل کلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظمونه

دیدن او یوه هیله

زه اوس کله ستا د مینې

ستا د مینې د چوپړ یم

لاس او پښه مې نشته ګلې

دا په څه عذاب ککړ یم

زه په نورو خلکو بوج یم

اوس دې کله ګرانې وړ یم

څه کیسه درته کومه

د ژوندون کیسه اوس مړ یم

لاس مې اینښي په نامه دي

په یوه پښه ولاړ خړ یم

اوس له مینې یم لوېدلی

درته پړ یم درته پړ یم

محبت و او ځواني وه

پټ دیدن و او حیا وه

ستا په نظر یو کتو کې

زنده ګي او بقا وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يه د سره سالو خاوندې

مينه زيست وه مشغولا وه

تا وېل مرګ د يار لپاره

ما وېل ژوند د يار لپاره

تا وېل دغه زنده ګي ده

مرګ او ژوند د يار لپاره

ما وېل دغه مو پيمان دی

زهر او قند د يار لپاره

ما او تا کړې دا خبرې

لکه شات لکه شکرې

زه او ته پرې خبر نه وو

په وطن راغلې لښکرې

سره روسان راغلي وونه

ورسره وې تورې زغرې

ته پر بام راته ولاړه

ما زين کړی لاندې اس و

يه د سره سالو خاوندې

ښورولی دې سپين لاس و

ما وېل خدايه بری غواړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا همدغه یو احساس و

ته د بام پر سر ولاړه

تا وېل زړه مې دی درکړی

بس نو دغه مې ارمان دی

چې برې دې وي راوړی

زه به سپینه خولګۍ درکړم

که دې ننګ و چېرته کړی

په وطن د ننګ کیسه وه

د غزا او جنګ کیسه وه

احساساتو مې تن ونیو

دا د توري شرنګ کیسه وه

د سرور لپاره ګلې

د منصور په رنګ کیسه وه

زه پر سپین آس سپور شوم ګلې

تا له بامه ننداره کړه

په میدان د جنګ ورګډ شوم

او له پاسه دې ناره کړه

یاره سر په وطن کېږده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا برى د ژوند چاره کړه

زه دا ستا په مینه مست وم

سره کفار مې تارو مار کړل

ډېرو تېښته وکړه شاته

تیت پرک مې ټول اغیار کړل

ډېر مغرور سرونه څه وو

ټول مې مات په یوه ګوزار کړل

تورې زغرې او ټانګونه

ستا وخوا ته شوې در ماتې

زه په سپین آس ورپسې شوم

چې دا روغې شي را پاتې

تا له بامه ټېل پرې تل کړل

ټولې وسوې دا میراتې

خړ ګردونه تورې لړې

سوځېدلې تورې زغرې

ته پر بام راته ولاړه

زه پر سپین آس سپور وم لرې

ستا وصال ته مې زړه وشو

را په یاد شوې ستا خبرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا وېل مرگ د یار لپاره

ما وېل ژوند د یار لپاره

تا وېل دغه زنده گي ده

مرگ او ژوند د یار لپاره

ما وېل دغه مو پیمان دی

زهر او قند د یار لپاره

خو پېرزو يې پر مورِ نه شوه

په لستوڼي کې ماران وو

دا زمونږ د خپل اولس وو

خو د بل چا غلامان وو

زه او ته يې چې جدا کړو

دا زمونږه تربوران وو

تربورانو چېرته غلی

پټ په لاره ایښی بم و

زه له آس نه شوم را کښته

او پرې ایښی مې قدم و

له هماغې شپېگۍ نه

زما زړه و او دروند غم و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کیسه شوه را نه هېره

چې زه څوک وم د چا یار وم

زمانه شوه ډېره تېره

چې د بل په اوږو بار وم

دا دی راغلم بېرته ګلې

زه ګدای د پردي ښار وم

لاس مې پورته وو نیولي

د پردي وطن بڼای ته

که روپۍ خیرات کې راکړي

دا بې لاسه پښو ګدای ته

خو فریاد مې چا وانهورېد

دا دی راغلم ستا وسرای ته

تور کاږه نري برېتونه

مې له غمه دا دي سپین شول

ډېر خواږه یاران مې څه وو

څوک ویده د مرګ په بین شول

څوک زما په څېر نیم ژواندي

څوک خو ولاړل د بل دین شول

دا دی زه خو بېرته راغلم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویرځپلي خوار وطن ته

شرنگه شرنگه شرنگه شرنگه

ستا په در ولاړ دیدن ته

یوه هیله لرم زړه کې

څو روپۍ غواړم کفن ته

ستا په در کې به ساه ورکړم

ته مې لاس په سترگو تېر کړه

هغه تېر یادونه څه وو

له یوې مخې یې هېر کړه

څو سپین ږیري مو د کلي

له شوټ مړي را چاپېر کړه

خدای لپاره سلگۍ تم کړه

کیسه پای ته رسېدلې

دا زمونږ د آه سندره

هسک سمای ته رسېدلې

پرېښتو ده اورېدلې

زمونږ خدای ته رسېدلې

جنت څه دی رنگین خیال دی

حقیقت دی لازوال دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې وينم ګرانې راشه

هاغه ځای مو د وصال دی

تمام حسن دی جمال دی

انتظار درته کمال دی

۱۳۷۹/۴/۲۷ -چک وردګ، اله خېل کلی

## مهاجر خيال

په يو وخت کې له ما پاته وطن دلته

د الفت او ښايستونو ختن دلته

زه پردېس ومه د شپو ديار مې ځای و

د سهار ورم و پاته چمن دلته

زه تنها وم څوک مې نه وو بې له خدايه

بس له خيال سره را ووتم له ورايه

فليسوف د اميدونو شوم شاعر شوم

بس له خيال سره را ووتم له ځايه

ماوې مستې د ګودر د ښنډو حورې

په څه ټوکو به راباسي ژبې تورې

هله ژر کوه مخ پټ که پلانکی راغی

وه نازکې ښاپيری د ملنګ لورې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وې ډول به په دا کلي کې دريزيږي
و اتڼ ته به مو زړونه هوسيږي
ماوې داسې يارانه کې به مو زيست وي
چې ياران به يو د بل زړو کې اوسيږي

ماوې ژوند به د ټپې څو کلمات شي
او يو بل ته به نظر د التفات شي
څو ګبينې خاطرې به را ژوندۍ شي
او خوږې به مو خولګۍ په قند نبات شي

ماوې سره غاټول ګلونه به را پاڅي
د پېغلوټو په څونډيو کې به ناڅي
مرور ريدي به بېرته را پخلا شي
له ګلرخ به له سروره پرخه څاڅي
ماوې سره انګور به زانګي له تاکونو
د مېوو به ډک تالي څي بيا تر کاخه
د بلبل او شارو نغمې به اورو
په دا باغ د هرې ونې له هر ښاخه

ماوېل هاغه د کوهسار لمن به شنه شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښایست د کلي ښار لمن به شنه شي

د ګلاب وږم به ښکلی کابل نیسي

د ویاړمن بالاحصار لمن به شنه شي

خو؛

ناګهانه چا را ویشتي توغندي وو

کلي ښار کې یې وژلي ډېر ژوندي وو

ها رونګینه رویا ولاړه مروره

بیا را پاته ګوزارونه په تندي وو

خیال ملګری تښتېدلی لکه اس و

په ګرېوان کې را لوېدلی یتیم لاس و

راته وېل یې : یه د خوب او خیال شاعره

بابا جان مې چا وژلی د چا لاس و

نه هغه په خوب لیدلی خوږ وطن و

نه را پاته هاغه باغ هاغه چمن و

چې مېلې به مو د خوند پکې کولې

دنفرت اورونو سوی مو ختن و

کنډوالې دي پکې اوسم دغه حال دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاجر مې د حسینو شپېو خیال دی

څه ګیله دې ښکلې نه کوې نن ګورئ

چې سل سره دې غمونه او کمال دی

۱۳۷۸/۴/۱۸

کابل پوهنتون، مرکزي لیلیه

## زما د مینې د اروا امامه

زه د شمال هندوکش سپینه مینه

پخپل نازک حسن مغروره نجلۍ

چې ته مې ولیدې نو ماته شومه

دا ستا په مینه شوم منصوره نجلۍ

د هندوکش د جنوب ښکلیه ځوانه

زمونږ د کلي چې ملا امام شوې

تر تورو څڼو دې را وګرځېدم

زما د مینې د اروا امام شوې

چې تا به پورته کړه ناره د اذان

ما به ترې زړه کې ترانه جوړه کړه

هاغه بې رنګه زنده ګي مې څه وه

ما ترې رنګینه افسانه جوړه کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر سهار به مې په شرنګ ويلو

هاغه رحمن سورت مې ټول ياد شو

ما ويل ستا بلا په هر هغه چا

په دې دنيا که غزلبول ياد شو

د جومات وره کې هر سهار ولاړه

چې ستا آواز و تر زړګي پورې

له خپل وجود نه ناخبره ومه

ګوتې به يخ شوې په منګي پورې

بس هاغه کيف چې ستا په ژبه کې و

نرمه سندره د جادو کې نه و

د محبت هغه اثر يادم

چې په منتر او په جادو کې نه و

زه ستا تر چنګو او نريو برېتو

ستا د خبرو په انداز مېينه

زه ستا د لوړ قد او قامت نه ډېره

ستا د خيالونو په پرواز مېينه

چې په کارېز به دې اودس کولو

نو ما به مخکې نه انګور ايښي وو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس د خپل زړه د تسلا لپاره

یو څو ګلان به مې ضرور ایښي وو

تا به وې دغه د جنت انګور دي

د انسان روپ کې پریښتې راوړي

دغه ګلونه یې د مینې اظهار

ددغه کلي ښایستې راوړي

خو دا جرأت مې کله کړی نه و

چې مخامخ درشم اظهار وکړم

خپله څولۍ د مینې وغوړوم

او فریادونه په زار زار وکړم

د هندوکش د جنوب ښکلیه ځوانه

ته مرور شوې که پخلا ولاړې

زمونږ د کلي نه په نیمه شپه کې

چې پټ په پټه او په غلا ولاړې

ستا له تلو وروسته د شمال هندوکش

د زړونو مینه په کینه وچه شوه

چې تا به کړل پرې اودسونه مدام

هاغه کاریز هاغه چینه وچه شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د مینې د اروا امامه

راته یادګار دې زړه کې دین پاتې شو

ستا د آواز د برکته دا دی

ماته رحمن ماته یاسین پاتې شو

زه د شمال هندوکش میره نجلۍ

د رنګ جومات تر څنګه ناسته یمه

دغه دې سپینې مې شوې تورې کوڅې

ستا د دیدار ملنګه ناسته یمه

بس ستا په یاد کې اوښکې وڅڅوم

هاغه رحمن هاغه یاسین را واخلم

د ناکرار زړه د کرار په خاطر

کله شپېلۍ او کله بین را واخلم

زما د روح او د اروا امامه

کومې سیلۍ د نفرتونو یو وړې

زه د شمال هندوکش میره نجلۍ

ته د جنوب خړو سیلونو یو وړې

که ته ژوندی وې نو د خدای لپاره

یو ځلې بیا په دغه لور راشه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مو له زړونو ناهيلۍ ووځي

زما د زړه په کلي کور راشه

۲۰۰۱ /جنوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۷۹ /د سلواغې ۲٦مه، د روسانو د ماتې په نمانځغونډه کې ویل شوی

## د ړندو سترګو جهانه

دا چې ګورې یې نن شل دی داسې نه ؤ
د غمونو یرغمل دی داسې نه ؤ
دا چې نن د چاپه تور په جبل کې پروت دی
دا چې نن لکه یو غل دی داسې نه ؤ
دا چې نن له خپل وطنه دی په تېښته
دا چې نن په ویر کې دل دی داسې نه ؤ

دا پرون را پرځوونکی د ښامار ؤ
مومن خان د شرینو زمونږ د ښار ؤ
دا چې نن داسې حیران دریان ولاړ دی
دا چې نن یې ماشومان له لوږې ژاړي
دا چې نن هر کوڅه یې ګز او پل کړه
دا چې نن له کس ناکسه څه شی غواړي
دا چې نن د چا په تیږه یې سر مات دی
دا چې نن دی چا وهلی په سوباړي

دا پرون د حماسې لوی قهرمان ؤ
د سرې یږې پرځوونکی ؤ افغان ؤ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې ګورې يې خيرن لستوڼي ځوړند

د طن له سره ځار يې شول لاسونه

دا چې ګورې دا بوډا يو څه وخت وړاندې

د زلمو په څېر کول يې غورځنګونه

دا چې نن له مجبورۍ نه سوال ته ناست دی

جوړول يې سرې بلا ته سنګرونه

آيا دا اتل ددې سپکې حقدار ؤ

آيا دی ستا د رندې سپکې حقدار ؤ؟

دغه سره سپينه وړوکې نجلۍ ګوره

په ډېران چې ټولوي بلا څيزونه

يو موچي سره شاګرد دی بل هوټل کې

هاغه دوه تنګې ګلان يې خواږه ورونه

ها يې مور ده چې په بيره يې ور مينځې

د ګاونډ د کوم بډای سپين کميسونه

د وطن له شهيد پاته دا کهول دی

تر ګلاب نازک او ښکلی له غاټول دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې لنډ يې کړل ور ټول يې کړل جهانه

د ها سرې بلا اوږده اوږده لاسونه

پرې يې نه ښودل چې ستا ګرېوان کړي څيرې

د وحشت سرې خواره اوږده لاسونه

د خپل تن په قربانۍ يې ته ترې خلاص کړې

تاته نه شول در کاږه اوږده لاسونه

دا جفا ده د ړندو سترګو جهانه

په اتل که څوک ګوزار کوی له شانه

ددې سوبې د فاتح سېځلي کور ته

د نفاق سوځنده اور دې ورته راووړ

د سندرو او ټپو پر ځای جهانه

بس د ساندو کړيکو شور دې ورته راووړ

چې تابلو دې د ښايست پر پېرزو نه شوه

د وحشت په رنګ انځور دې ورته راووړ

اوس د امن په فضا بل شوی اور دی

اوس د هاغه اتل سوی کلی کور دی

د فاتح په وطن لوېشت په لوېشت بمونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره هاغه پرې ور سيخه چې شوه بيانه

تورې لړې يې هوا ته شوې اوچتې

اوس به څه رنګ په هوا کې راشي زانه

چې د امن د سپرليو پرې بنديز دی

په سره اور کې به نه ګل پاته نه پاڼه

ستا جفا ده د ړندو سترګو جهانه

په فاتح دې ګوزار وکا ناګهانه

## چې لوی خدای دې ننداره کوي

هاغه ورځ يوه پېړۍ شوه پر ما تېره

په ژوندون به مې هېڅکله نه شي هېره

د اوږده سفر موزې يې چې په پښو کړې

د وصال هيلې يې خوشې په اوبو کړې

ټوله ورځ مې په سر څمکه ګرځېدله

ټوله ورځ مې په زړه ورکه ګرځېدله

ټوله ورځ وه توره شپه څراغ يې نه ؤ

يار مې چېرته ؤ د پله سراغ يې نه ؤ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله ورځ شوه توره شپه، اف شپه خو ښه وي

په خوب لنډه شي پېړۍ اوږده خو نه وي

که په ويښه توره شپه سهار شي وروره

څومره ښه وي چې پرې وژاړې په زوره

خو د ورځې دغه کار کولای نه شې

د خپل زړه د غم اظهار کولای نه شې

خو؛

که په ويښه توره شپه سهار شي وروره

څومره ښه وي چې پرې وژاړې په زوره

چې لوی خدای دې ننداره کوي ته ژاړې

بس وصال په غوړېدلې ځولۍ غواړې

چې لوی خدای و فرښتو ته امر وکړي

نيسئ خوار عاشق ځانته صبر وکړي

چې سختي د هجران ليدلې نه ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سختي يې د زندان ليدلې نه ده

لاس يې نيسی سمې لارې ته يې سم کړئ
يوه ګوته يې بې پامه ور قلم کړئ

چې ليکل په قلم شوې ګوته وکا
عبث مينه دې له چا سره څوک نه کا

لاس يې نيسی مسلمان دی کافر نشي
چې بې خياله بې کماله شاعر نشي

داسې څه به له خولې وباسي چې اور وي
نه چې دواړه جهانونه يې مخ تور وي

وېرېدلی ترهېدلی يو انسان دی
دا زما بنده په مينه را ته ګران دی

## زه چې باران غواړم

دا خو هماغه اسمانڅک غرونه دي
چې يې پر سر وې انبارونه واورې
اوس يې پر سر پنډوسکی سپين نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ترې دوړېږي خړې پړې خاورې

دا خو هماغه کوږ او ووږ سیند دی
چې په لوګر به ګړندی ؤ روان
لکه د جنګ یاغي باغي اسونه
لکه سرکشه د کوچیانو اوښان

هاغه رڼې او د یخې چینې
چې مو وژل پرې د زړګي اورونه
آب حیات آب خوات یادوم
چې مو ودان وو پرې حسین کورونه
ته لا تر اوسه ترانې وایې
د مڼې ګل د سنځل ګل شاعره
ستا پر وطن د وچکالۍ خپسه
یه د وردګو د کابل شاعره

له طبیعت نه خو انکار نه کوم
زما مڼې زما انګور خوښېږي
دا د جنت په شان وطن مې یاره
په خوب او ویښه کې ضرور خوښېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې دا لوړ غرونه او خړ سرونه

وچې چينې وچوکی رود وينم

ګومان مې نشي چې به څکه وکړو

چې خرڅې شوې منې دود وينم

د تجارانو لوی ټرکونه ولاړ

پېټۍ به ډکې له انګورو يوسي

د يو څو شنو روپو بدل کې ياره

ټولې مېوې به له مجبورو يوسي

نو دغه تکې سرې او سپينې منې

د تور پنجاب خېټې کندو ته لوېږي

يا خو له ښکلي کشمير آخوا واوړي

دوزخ د ګېډې د هندو ته لوېږي

بس پخواني وختونه نه دي پاته

چې په ګلونو به مو زړه ورکاوه

چې په وږمو کې به مو زړه غوړېده

چې په رنګونو به مو زړه ورکاوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې به له کوره په خندا ووتو

د مکتبونو مدرسو طالبان

دغه شاو خوا باغونه ټول د ټولو

موږ به ور پرېوتو په جار او قربان

زما په یاد شي د همدغه کلي

ډېرو سپین ږیرو زموږ ناز وړی دی

همدغې لارې ته پرتو باغونو

زما د زړه د هوس باز وړی دی

بس دا کیسه نه وه د چا له باغه

موږ زردالو او شنې منې راوړې

دا زموږ خپل وو څه پردي خو نه وو

ډکه لمن مو آلوچې راوړې

د پټې کار نه و رڼا ورځ وه

دلته رواج نه وه د سوال خبره

د بدنیتیو د پېغور له اوره

دلته رسوا نه وه د سوال خبره

زما او ستا د باغ په ګډه پوله

دواړو پوولې وې په ګډه غواوې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واه! عجیبه به پسرلی ښکارېدو

لکه وطن چې ټول وي ناوې ناوې

زما له چاودو به چې وینې تللې

تا به له کوره ژېړ غوړي راوړل

چې ما به غوښتل نو که هر څه به وو

زموږ د کلي هر سړي راوړل

اوس چې دا ستا ماشوم زما له باغه

منه را وشکوي نو غوږ یې نه وي

اوس چې زما ماشوم دا ستا په پوله

غوا کړي روانه شور او ځوږ یې نه وي

زه چې باران غواړم نو نیت مې خراب

وایم چې خدایه خړ سېلاب راولې

چې له ما پرته ټول په مخه یوسي

خدایه همدغسې عذاب راولې

ته هم همدغسې ښېراوې کوې

له پسې شا واره انکار نه کوې

چې یوه تیږه غواړم سر پرې مات کړم

ته له خپل نیته دغه کار نه کوې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دغه لوړ او اسمانڅک غرونه

چې یې لمن له شهیدانو ډکه

له ما او تانه خپه شوي ښکاري

له ما او تانه یې راغلې کرکه

همدغه لوړ غرونه او خړ سرونه

وایه له چا نه مرور ښکاریږي

چې سپین څادر د واورې نه اغوندي

له ما او تا نه مرور ښکاریږي

نه نه توبه توبه خطا وتمه

زموږ نه پاک ذات سبحان خپه دی

د کایناتو کهکشان مالک

د غرو رغونو لوی سلطان خپه دی

له ما او تانه ددې ټولې دنیا

لویه هستي خیرالبشر خپه دی

چې یې د عرش مزل لحظه کې وکړ

هغه سپېڅلی پیغمبر خپه دی

نو داسې حال به باغونه وچ شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به منه وي نه به شنه ترخه

نه به د ښکلو ګلابونو پر مخ

چېرې ښکاره شي بیا رنه پرخه

نو داسې حال کې راځه ټیټه کاندو

خدای ته په عجز په زاریو غاړه

چې د بلبل له ترانو واخلو خوند

چې بېرته واورو د قمریو غاړه

چې راښکاره شي سپین اوښان د وریځو

د رحمتونو بارانونه وشي

چې له دې دنګو اسمانڅکو غرونو

وچې چینې کاندي اوبه را خوشي

د سنځل ګل د منې ګل شاعره

راځه په ژوند خو دا کمال وکړو

د لوړو غرونو هست او بود له ربه

د نېک نیتی یو ښکلی سوال وکړو

۱۳۷۹ چک وردګ، د منې ګل مشاعرې ته اورول شوی

## انځورګر

زه یو داسې انځورګر یم

چې روغ زړونه مې کار دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښایست انځورګري کړم

ځو رنګونه مې په کار دي

خو دا ډېره موده کېږي

چې له مینې تور دي زړونه

نو په داسې حال کې یاره

څېرته نشته دي رنګونه

ځمه ځمه مخ پر وړاندې

لټومه د ګل څانګه

ګوندې خدای یې په لاس راکړي

غنیمت د حسن پانګه

توره شپه کې وړاندې ځمه

بل په لاس کې مې مشال دی

هغه لمر را ځنې ورک دی

چې یې نن درویشتم کال دی

هغه لمر چې یې رنګونه

له پنځو زرو نه زیات وو

هغه لمر چې یې راکړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځورونه په زکات وو

پدې تمه وړاندې ځمه

که یو څوک په مخه راشي

چې د زړه حال ورته تېر کړم

چې له درده په ژړا شي

په دې تمه وړاندې ځمه

ګوندې لمر په مخه راشي

دوباره مې چې د مات زړه

دنیاګۍ رڼا رڼا شي

توره شپه ده لمر ویده دی

د نفرت د غرونو شاته

د دېوانو د لښکرو

د ډېرو زړونو شاته

چې په کار مې نه دي هغه

تور او سره رنګونه ډېر دي

دا په دې چې پر دې سیمه

د نفرت جنګونه ډېر دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو نيم غبر د کوکې واورم

په هماغه لور روان شم

چې ورځم په مړي واوړم

په ورتللو پښېمان شم

يو نيم غبر د زانې واورم

د آسمان په توره څنډه

ځو مشال ورته ور ښايم

رانه ورکه شي په منډه

يو نيم غبر له کومې خوانه

د شپونکي د يا قربان وي

خو چې ورشم ساه نيولی

په ماينونو کې قربان وي

خو رنګونه دلته نشته

دلته مړ د ژوند څراغ دی

دلته مرګ ګونډه وهلې

دلته زړه د هر چا داغ دی

زه يو داسې انځور ګر يم

په يو لاس کې مې مشال دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل کې مې لوی خدای ته

د ها لمر نیولی سوال دی

۲۰۰۱/۵/۱۵

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خیال او حقیقت

یاره ژوند مو افسانه ده او یو خیال دی

که نه نور خو موږ څه نه لرو بس سوال دی

خیال ته راشي څوک چې زړی مې در باندې

ښاپېرۍ به په خندا کړي هېرې ساندې

وخت پر مخ تللی جومات وطن دې روغ دی

د حمدونو مناجات وطن دې روغ دی

بیا د مینې په ناره امام جگ شوی

د جومات په مناره امام جگ شوی

چې را وبولي ددغه ښار وگړي

عبادت د خدای ته ټول هوښیار وگړي

د سندرو په دې کلي ښار کې شور دی

محبت په زړونو بیا بل کړی اور دی

په گودر له خندا ماتې شي تور سترگې

لکه یخ شمال کړېږې وږې کا درگې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګودر د مستو جونو شور او زوږ دی

په یو ګوټ ورته شاعر نیولی غوږ دی

په ټپو کوي پوښتنې ځوابونه

یو پر بل کوي د سرو ګلو وارونه

ورته ګوره د کوم ځوان راغلې ورا ده

د شهید د ورور آرمان راغلې ورا ده

ورته ګوره له میدان جګ شوی ګرد دی

په اتڼ ورګډ د چنګو برېتو مرد دی

ورته ګوره چې کوترې به را ځینه

بې آزاره برګ وزرې به را ځینه

له هوا به سره ګلان را اوروینه

دا په ویاړ د هر افغان را اوروینه

ورته ګوره هاغه ټانک ته لکه ځنځه

چې یې وسېځل نښتر ؤ او که لمنځه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې رنګ کړل زموږ کلي او ښارونه

چې يې لاندې کړل د خيال زلمي سرونه

په پاخه او کلک ايمان مو سلامي کړ

په سندرو ياقربان مو سلامي کړ

اوس د لوبو کوټنۍ د ماشومانو

له شړبړېتو نه را پاتې يتيمانو

������������

خو دا خيال دی څه رښتيا او څه درواغ دی

حقيقت کې هجرتونه ناصرباغ دی

خيال کې خپل کورونه ښکلي له ماڼيو

حقيقت کې يو په ډاګ د جلوزيو

خيال کې وځښو ډک جامونه له ګړيو

حقيقت کې جل وهلي په کېږديو

خيال کې ياره کمپيوټر مخې ته ناست يو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت کې د پوډر مخې ته ناست یو

خیال دی دا چې په امام پسې روان یو
د نړۍ په سپین اسلام پسې روان یو

موږ د فقر په تور تم کړه لاره ورکه
د هر چا ده نن راغلې له موږ کرکه

مسلمان کړی په موږ د کفر شک دی
او خوړلی مو ګوزار د لور ښتک دی

داسې حال کې زنده ګي شوه راته ګرانه
بس حلاله بنده ګي شوه راته ګرانه

نو اوس خیال کې مو وياړلی غوندې ژوند دی
حقیقت کې ژړېدلی غوندې ژوند دی

۲۰۰۱/۰۵/۲۰ پېښور

## داسې حال کې ښنګه خاندې ؟!!

دا په کومه خوشالۍ کې دې زړه باغ دی
له مستۍ نه دې پرې اېښی کار دماغ دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خندا نه دې خوله ټوله نه شوه وران يې

را ته وايه آشنا کومه خوا روان يې

راته وايه بيا دې څه ليدلی خوب دی

چې وهلی دې نن ځان په لپونتوب دی

خوشالي دې راته وايه چې شريک شو

چې په ګډه بيا خنداوو ته تحريک شو

د خندا په چل مې پوی کړه را نه هېر دی

له زړګي مې يو لښکر د غم چاپېر دی

دا غمونه يو خو نه دی چې يې هېر کړم

د ملنګ په څېر چې ځان له سپي ور تېر کړم

هر يو غم لکه د سره روسي په شان دی

چې وران کړی يې د زړه افغانستان دی

هر يو درد لکه پردی د بل وطن دی

چې نيولی يې زما د زړګي تن دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ساه مې له زړه تېره بېره څرېکه

خولې ته راشي بې اختیاره آشنا کرېکه

زنده ګي چې ورته وایو نو سلګۍ ده

رانه هېره بس د ښکلي یار خولګۍ ده

یاره ژوند مو له ترخې موسکا نه ډک دی

بس ټانکونه دي کوتکې دي ټوپک دی

چې لیدلی مو هر نوی انقلاب دی

رژېدلی د آرمان پکې ګلاب دی

پلنې دښتې وړاندې خوځنده سراب دی

داسې حال کې مو ژوندون په اضطراب دی

څو چې سترګې کار کوي په مخ کې دښته

را پسې د غم پولیس په لاس کې لښته

ښه نو وایه داسې حال کې څنګه خاندې

که وي زېری آشنا زېری دې را باندې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر که زه غریب سړی یمه نادار یم

خو آشنا په هره سخته در په کار یم

سره او سپین نشته غلام به دې شم یاره

زړې وکړه لاس په نام به دې شم یاره

وار خطا نشې هنر به درنه ځار کړم

د خیالونو در ګوهر به درنه ځار کړم

یو منتر به په الهام له خیاله واخلم

په خوښۍ کې به یو جام له خیاله واخلم

په یو چوف به دې په دم ساعت پاچا کړم

زړې وکړه چې را ټول دې رعایا کړم

په خندا خندا به خیال درنه قربان کړم

د غزلو به کمال درنه قربان کړم

���������

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا کې آشنا ووېل لېونیه!

د خیالونو نظرماتیه سپېلنیه

د خیال د هاتي غوږ کې لا ویده یې

او په دومره شور او زوږ کې لا ویده یې

کړنګهار مو د ژوندون د قافلې دی

د لوېدیځ په لوري یون د قافلې دی

دلته لوږه بې وسي ده لاس مو تنګ دی

دا پدې چې ډېر کلونه کېږي جنګ دی

ما وېل نه چې له خوارۍ بې وخته زوړ شم

نو که خدای کول همالته به ښه موړ شم

ته دوعا کوه نیویارک ته چې زه ولاړ شم

په مړه ګېډه بیا پارک ته چې زه ولاړ شم

نو؛

بیا هر جام چې جګومه ستا په نام وي

که سهار وي که غرمه وي که ماښام وي

۲۰۰۱/۰۸/۲۵ پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محبت

ها پرون چې له کفارو نه بېزار شوو

داسې نن له ایماندارو نه بېزار شوو

څه زموږه ساده ګي وه او څه وران وو

چې په کس ناکس پسې خدایه روان وو

پوهېدلو که رښتیا دومره نادان وو

چې پیرو د نفرتونو د شیطان وو

محبت یې له مذهبه بېل ګڼلو

شیطانانو عشق له ربه بېل ګڼلو

سمندر څپې څپې ؤ د سرې وینې

چېرته څرک نه ؤ په زړونو کې د مینې

په روپۍ د مرګ آرزانه تماشا شوه

مینه ولاړه د پردۍ غېږې آشا شوه

ډېر کلونه مو که پل او که ګام واخیست

له لوېدلي یار مو بس انتقام واخیست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پردیو نه مو اور په انعام واخیست

او له خپلو جل وهلیو مو جام واخیست

لاس تر زنې انتظار د خپل نصیب شوو

په رښتیا چې وروسته پاتې شوو غریب شوو

د مرګونو په بولۍ کې مو روزي شوه

د باروتو په ډېرۍ کې مو روزي شوه

ها زموږه روایت د مینې دا ؤ

روایت او حکایت د مینې دا ؤ

چې بنده ته خدای په مینه کې قریب شي

څه چې زړه غواړي هماغه يې نصیب شي

محبت څراغ د تورې تاریکۍ دی

نور د زړونو د لایزر د باریکۍ دی

مینه وکړئ چې روزي مو خدای ایمان کړي

چې له زړونو مو په منډو شیطانان کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۰۲/۱۰/۲۰

## د خيال پري

ځان به تباه کړي

دا چې سپين ږيرى

د شپې او ورځې

خيال د ځوانۍ کا

لکه سيالۍ کې

د غځېدلو

دوه ځايه بېله

ځان شمشتۍ کا

د خيال پري مې

ذهن ته راغله

له غريوه ډکه

په بوخو شونډو

ما وېل کېداى شي

په څو پوښتنو

خندا پرې راشي

شونډې موسکۍ کا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته ووېل:

ګرانې دا څنګه

شور د سندرو

په کلي نشته؟

وېل يې: ځوانان دي

خاورو ته درومي

ساندې پرې وايي

نجونې سيالۍ کا

ما ورته وويل:

که مينه غواړې

بيا به نه ژاړې

زما غزل ته

وېل يې: افسوس چې

داسې څه نشته

ستا په غزل کې

ما خندنۍ کا

ما وېل: شيرينې

تر واورې سپينې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې زړه تورې

شوې ته له مینې

وېل يې: جانانه

وينې تويېږي

مرګونه کېږي

زړه مې سستۍ کا

ما وېل: آسمان مو

ښکلې تیاره دی

نه يې سپوږمۍ شته

نه رانه ستوري

وېل يې: دا ستوري

يو نيم ميليونه

تر خاورو لاندې

ژړا سپوږمۍ کا

ماوېل: نازکې

د خيال ملکې

خندا دې غواړم

يو ځلې زړه کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېل يې: دا زړه مې

ساده کماله

لبخند د مینې

په ساده ګۍ کا

۱۳۷۹/۰۶/۲۷

**د خوشحال بابا په کرښه**

**زه به وایم چې دا غم نه څه ته وايي؟**

که رښتیا یو ځل د امن نوبهار شي

او را خور د ګل د وږم خوږ غبار شي

چې د امن د لمر ځرک شي ژوند به ځک شي

او مرګونه به د غلو په ښېر فرار شي

دا رنځور کنډ او کپر وطن به روغ شي

دا د ساندو کړیکو شور چې په کرار شي

د سندرو لپونۍ ځپه به راشي

په هر چم به یاقربان او یکه زار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمانڅک غرونه به شنه شي له ګيا نه

شنې غونډۍ به پېغلې پېغلې د ديار شي

دا آسمان بابا به لوی ټوپک را واخلي

جوړ په توره وچکالۍ به ډنډوکار شي

د غلې دانې به دومره پرېمانې شي

و هر چا ته به غونډۍ غونډۍ انبار شي

کږې غاړې لوړ اوښان به د کوچيانو

په دا ښکلي کنډو بيا هسې کتار شي

محبت به مو د زړه د باغ باغوان شي

او نظر به مو د مينې طلبګار شي

ټول سپين ږيري شاعران به را ځوانان شي

ټول وطن به په غزلو کې سرشار شي

مساپر د هندوستان به ګرده راشي

پر آباد به دغه وران کلی او ښار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرور به سره غاړه او غړۍ شي

او همدغه خوشالي به مو يادګار شي

د پېغلوټو وربلونه به غاټول شي

او په مينه به يې مست ځني دوچار شي

غنمرنګ آشنا به رنګ بايلي په مينه

لړ به ژېړ شي لړ به هم په هڅ کې خوار شي

د ملي اتڼ زلمي به سم را جګ شي

او د ډول به په دې کلي درزهار شي

د اشر ځوانان به متې را ونغاړي

د وطن په آبادۍ به پيل کار شي

زمانه د تور مغل به خدای کا تېره

د افغان په سپين وطن به روڼ سهار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به وایم چې دا غم نو څه ته وایي؟

ته به وایې بې وفا چې د چا یار شي

ته به وایې غم د مینې هله ډېر شي

چې نصیب د چا زړه سترې انتظار شي

اوښکې سپینې هغه وخت شي د زړه وینې

چې آشنا دې د لستوڼي غوندې مار شي

زه به وایم وای توبه له داسې خلکه

چې د یار سره جفا کاندي غدار شي

زه به وایم د آرام ښایست ملوکې

ستا دیدن په څو روپیو که دینار شي

ته به وایې که دیدن دومره ارزان شي

نو په مینه کې به غلي سندرمار شي

د دیدن بیه مې زر غزلې نغدې

که دا نه وي د آسمان ستوري دې شمار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به ته هله یو ځل زما دیدن کړې

د ښایست بیه همدغه په بازار شي

زه به وایم یه د سپین ښایست ملوکې

دومره جګ قیمت ته خدای که څوک تیار شي

د آسمان ستوري خو بې له هغې ډېر دي

زر غزلې د خیالونو دې در ځار شي

نو کمال به بیا په مینه قلم واخلي

په سرشارو شاعرانو کې به شمار شي

۱۳۸۱/۰۱/۰۱

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلونه

## غزل

ویر خو زموږ خوښ نه ؤ چې راغی انډیوال شو

ژوند مو ټول رنګین رنګین خوبونه شو او خیال شو

زه چې ډېر خوشاله وم نو هر سړی مې یار ؤ

زه چې په غم واوښتم نو هر سړی دېوال شو

څومره ښایسته مې دا د زړه افغانستان دی

ورک یې رانه خدایه په دا درست جهان مثال شو

یوه ټپه د مینې د لیلې وه که انتر منتر

لوږ مې په دېوانو شهزاده غوندې مورال شو

ته له غرونو ها خوا زه دې ووینم په خیال کې

ښکله څومره ګران څومره آسانه دې وصال شو

توره تاریکي وه، خو رڼا رڼا رڼا شوه

ستا د مخ رڼا شوه او که بل راته مشال شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې د درهم او د دينار لېوني ولاړل

ځای پر ځای حيران پاته په ټولو کې کمال شو

۲۰۰۲/۰۴/۰۳

## غزل

ښکه ياري وه خو وطن چې ټول پېغور واخيست

زما او ستا تر منځ شول غرونه زړونو اور واخيست

زه د غربت لحظه د زړه په زور تېروم

آشنا زما په وينو ځانته نوی کور واخيست

محبت څه دی؟ دومره زه هم پرې پوه شوی نه يم

بس دا مې ياد شي چا مې زړه رانه په پور واخيست

د جانان ياده ښه به دا وي چې په بله ولاړ شو

زموږ د زړونو راز دا کلی ښار په شور واخيست

چې شپه او ورځ يې بې له تانه د چا ذکر نه ؤ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کماله هاغه یار درنو سترگو د گور واخیست

۱۳۷۹/۰۴/۱۴

## غزل

یه زمورِ د سترِو هیلو ویده بخته

په لټ واوښتې را ولوېدې له تخته

ته ذره ذره شوې مورِ شوو ذره چاودې

د ژوندون هره لحظه له مرگه سخته

یه د ستورو پېژندونکیه بابا وایه

څو به وینې وي جاري تر کومه وخته؟

د آشنا دیدن یې پاته په زړگي شو

یوه ښکلې انتظار کړله کرخته

څه کماله چې کوم لوري ته ځان باسو

هله ژر کوه چې ډېره شوه ناوخته

۱۳۷۸/۱۱/۱۸

## غزل

شرنگ د اشرفۍ چې حس له یاره ځنې وباسي

دوړه به د فخر له مناره ځنې وباسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د لېونو په لاس کې ورکړه د بابا توره
روح د آزادۍ به له هوښیاره ځنې وباسي

اوس د پښېمانۍ په سل او زر افسوسه څه کېږي
جهل خلک ډېر له دار مداره ځنې وباسي

حیف چې ماشومان زموږ د لوبو سامان نلري
ځکه اور له اینبي ماشینداره ځنې وباسي

ژونده! که راځې نو څو ځوانان د امن راوله
مرگ چې په اوږو د جنگ له ښاره ځنې وباسي

رب دې دا د ښار بلاوې کلي ته رانه ولي
نجونې ساده گۍ به مو له کاره ځنې وباسي

دا د کومې بورې مور ښېرې را پسې شوې دي
خدای دې څوک له داسې بد آزاره ځنې وباسي

را دې شي طبیب د حسن مینه دې دوا راوړي
درد چې مو د زړونو له پرهاره ځنې وباسي

۱۳۷۸/۱۰/۱۵

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

شپه ده پتنګان یو و طواف ته څراغ نه لرو

زړونه مو تور شوي ګویا سپین پکې داغ نه لرو

حیف دی زنده ګي شوه خپه تېره که ضدي نجلۍ

اوس یې پخلاینې ته باني او درواغ نه لرو

قهر د یزدان به مو وهي آخر پخپل عمل

مرو به له نیستیه په کفن کې به چاغ نه لرو

کله را مالوم شي کله ورک شي ښایسته جانان

ژوند مو خوب او خیال شو له راستیه سراغ نه لرو

هاغه د خوښیو محفلونه د نغمو وطن

اور ته مو ایله کړل و بلبلو ته باغ نه لرو

موږ که بنجاره یو د کمال غزل غزل لرو

لار ګمراه ته ښایو په خورجین کې دماغ نه لرو

۱۳۷۸/۰٦/۱۲ - کابل پوهنتون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د یار د تورو سترګو په ادا کې پېښ شي جنګ

عجیبه ده په نیمه خوله خندا کې پېښ شي جنګ

زموږ له مرګ او ژوند سره تړلی دی مدام

تر منځ مو هم جفا کې هم وفا کې پېښ شي جنګ

د کومې بورې مور را پسې شوې ده ښېرا

چې وخت ناوخت مو ښکلیه په دعا کې پېښ جنګ

د اوښکو وینو رود به څنګه نه راځي آخر

چې بس د سولې امن ابتدا کې پېښ شي جنګ

د سرو کفارو شپو نه چې را ووځي افغان

افسوس چې بیا د سپین اسلام رڼا کې پېښ شي جنګ

د ښکلي وطن مینه محبت کې لېوني وېل

هر ځل د څو هوښیارو په سلا کې پېښ شي جنګ

کماله تر بل چا پورې یې نه رسېږي زیان

که مینه کې د زړونو په درزا کې پېښ شي جنګ

۱۴۰۵/۲۰۰۱/

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

راغلمه د هجر له بلاده ته اوس چېرې يې

نه مې وځې هېڅکله له یاده ته اوس چېرې يې

نه دې وینم، ړوند نه یم، خو حس مې کړې هر لوري ته

څه وخت دې عادت واخیست له باده ته اوس چېرې يې

دا ویشتلی زړه اوس چاته ور وړمه په څه نامه

څوک به یې را جوړ نه کړي صیاده ته اوس چېرې يې

هر اسوېلی ستا د نامه توري شي غزل غزل

جوړه قصیده شي له فریاده ته اوس چېرې يې

ذهن کې دې جوړ کړم بېرته ړنګ شې د کابل په څېر

زړه سترې دې کړمه اعتماده ته اوس چېرې يې

ګرده شپه مې وکتې خو ورک وې چېرته تللی وې

یه د کمال خوابه نامراده ته اوس چېرې يې

۱۳۷۹/۰۶/۲۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په پورې بام په موسکه خولګۍ يار ښه ښکارېږي

په سپينه مينه غاړه کې يې هار ښه ښکارېږي

دا خلک لېوني نه دي چې ښه دې ساتي خيال

کاروانه!* په غزل کې دې چنار ښه ښکارېږي

بيا توره تاريکي شوه په څراغ کې نشته تېل

اميد په تروږمۍ کې د سهار ښه ښکارېږي

خوښۍ راته پېغور شي ربه داسې شوو عادت

بس موږ ته په ويرونو کې بهار ښه ښکارېږي

زما په خيال اوس دومره اوسپله نه شوه را پاتې

چې ووايو د وصل انتظار ښه ښکارېږي

۱۳۷۹/۰۶/۰۴

## غزل

څه بې پروا او څه زړه توري چې له ناز ښکارېږي

د کلي ښکلي نن په بل ډول انداز ښکارېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آشنا سندره دې را واخیسته او ودې ژړل

ماته خو دا د کومې پټې مینې راز ښکارېږي

کوم جادوگر مې خدای خبر په سترگو څه کړي دي

توره بلبله هم هوا کې راته جاز ښکارېږي

ته ورته دومره جگ او ټیټ شوې غرنیه آشنا

دا ستا خبره په والله که ورته پیاز ښکارېږي

د محبت یوه سرمسته پیلامه یې گڼم

چې ځان شي خیال او خیال د دنگو غرونو باز ښکارېږي

۱۳۸۰/۱۲/۱٦

## غزل

ملنگ څه غواړې؟ دیدن ، پښې ځواب ورکا

په کنډول چې یار د شونډو شراب ورکا

د دنیا د هوښیارانو بل څه کار دی

بې له دې چې و مجنون ته عذاب ورکا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقان چې د شپې ګرځي پرې پوهېږم

که څوک پور ورته په سترګو کې خواب ورکا

که د امن بهار راشي پدې سیمه

بختورو ته به زېرې ګلاب ورکا

آدم خان د زمانې په زړه چاودون دی

درخو نشته چې د مینې رباب ورکا

د دنیا محبت ګویا روان سیند دی

عبث کار دی که څوک زړه په دریاب ورکا

زرمنی د غم وځه* کمال اوچت کړ

خدای ج په زړه کې توان د صبر او تاب ورکا

۱۳۷۹/۰٦/۲۸

## د بهار نښې

تالا چې مو کاروان د حوادثو په توپان شو

طبیب مو د زخمونو له پټیو نه ستومان شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مرګه خلاصی نشته خو وېرېږمه ترې ځکه

په زړه مې د وطن د آرامۍ پاته آرمان شو

له موسکې خولې ټوکمار آشنا مې کرکه ځکه راشي

دا ګران افغانستان چې مو په ټوکه ټوکه وران شو

د ژوند په داسې پېر کې له شلمې پېړۍ ولاړو

په تېښته له خپل کوره راته ټول جهان حیران شو

سندرې شوې سلګۍ سلګۍ، تپې شوې ساندې ساندې

بدل په فریادونو د اتڼ چې یاقربان شو

اتڼ ته به مې څنګه وزر وسوځي یارانو

چې پاته ژړه غونی مې د ویر په چم جانان شو

قیامته ستا راتګ خو څه خیالي افسانه نه ده

ایمان په پر تا پوخ شو چې نن هر سړی په ځان شو

یو ورور مې د قابېل د لارویو سره مل شو

د بل ورور د وژلو نیت یې وکا او روان شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کماله د بهار د راتلو نښې مو همدا شوې

چې ګرم په مرګونو د جنګونو سوړ میدان شو

۱۳۹۷/۰۱/۰۲ -سردار احمد جان کالوني، کرایي کور

ماتېږي که روپۍ باندې حجاب د تورو سترګو

تر ټولو وړاندې زه نه کوم خواب د تورو سترګو

ژوندون څه دی؟ او مرګ څه دی مین به پرې پوهېږي

په مینه کې د هو او نه ځواب د تورو سترګو

دا ګرده شپه چې ګرځي سربداله ملنګان دي

بس څښلي یې کنډول کې دي شراب د تورو سترګو

۱۳۷۹/۰٦/۰۸

## غزل

یادونه دې اوس لوی شول څومره غلي مهاجر دي

شوخي د زړه پر بام نه کوي ستړي مهاجر دي

پستې او سپینې شګې یې په وینو تکې سرې دي

په لویه لار کې خدایه چا ویشتلي مهاجر دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دردونه له هر لوري غريبۍ پسې را وتي

زموږ د زړونو زخم ته راغلي مهاجر دي

نفس نفس آهونه شوم، ګرېوانه ځای خو ورکړه

له سترګو نه څو څاڅكي ښويېدلي مهاجر دي

دا نن چې څنګه زه په محبت ور پوهېدمه

افسوس چې شېبه وړاندې هغه ښکلي مهاجر دي

کشميره په ښايست کې يکه تاز شوې ځکه پاته

چې اور کابل اخيستی زنده سري مهاجر دي

۱۳۷۹/۰۳/۱۵

## غزل

نه پوهېږم څه وخت دی سهار دی او که ماښام دی

بس ښکليه نور څه نشته په خوله ذکر ستا د نام دی

ملګرو خپه نه شی در ښايلی خو يې نشم

جانان مې پټ نيولی د زړګي د تخت مقام دی

ترلې دروازې دي په کوڅه کې خير نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځه ملنګه ياره خيراتي ديدن پر بام دی

شپېه له کال اوږده شي د محبوب په انتظار کې
ساقي کراري غواړم سوال د ميو د يوه جام دی

ديدار مې د جانان کړی د حسن په حرم کې
منصف مې بيايي دار ته دغه کفر که اسلام دی

د خيال د جزيرې تمام وګړي ورپسې شول
کمال خو نن د حسن د لښکرو مست امام دی

## غزل

لکه وطن ته دوباره چې روسۍ ليکه راشي
داسې له غمه زما ياره خولې ته کړيکه راشي

دردونه څه دي؟ ياره زه او ته پرې ښه پوهېږو
بس د هجران له وېرې زړونو ته مو څړيکه راشي

په رڼا ورځ منې په شمار څلور پنځه ورکې شي
د جهالت پرده په سترګو چې تاريکه راشي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسارت تور زنځيرونه به اوبه کړي د زړه

که د ايمان وړانګه لايزر غونډې باريکه راشي

دغه تر منځه فاصلې د اور لمبې دي که نه؟

که وي، پرې وژاړو چې ټينګه مو اړيکه راشي

۱۳۷۹/۰۲/۱۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

معصومه څېره راشي تصور ته ژبغړاندې

پوهېږم زړه ورنيسي د نظر د کېږدو مراندې

د خيال شاهين مې ګرځي پاس د هسک په کنارو کې

کوترې د بام څاري چې را وځي به د باندې

اول يې نابينا کړم بيا ګړنګ ته يې ور سيخ کړم

شاباس د تربورانو دی لا وايي مخ پر وړاندې

بيا تور وربوز وهلې لکه شپه په ګودر راغله

دوې سترګې يې د ستورو په شان غړندې ځلاندې

د خيال په جزيره کې چې کمال يوازې ناست ؤ

له ژونده يې زړه تور ؤ ور په ياد وې د چا ساندې

## غزل

لکه د سرو کفارو ليکه چې وطن ونيسي

داسې دې ياره ټول غمونه زما تن ونيسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په لحظه لحظه کې مړ ژوندی د یار لپاره
ځکه مې سوې بڼه رنګ د کورکمن ونیسي

له عاشقۍ به یې بېزاره تر هغې نه شمه
څو چې د مینې نذرانه تشه لمن ونیسي

زه لېونی یمه که مړ یم ددې ښار خلکو ته؟
څوک مې په تیږو ولې څوک راته کفن ونیسي

صیاد د مینې بام ته وخوت خدای دې خیر کوي
د چا د روح سپینې کوترې ته به ږدن ونیسي

امن به هله دا په زړونو صادقان راولي
که د خپل لاس لستوڼې غلې میرڅمن ونیسي

زه په دې خیال د محبت پرې په زړه کې ساتم
چې ګوندې خدای د غضب دېو په ځنکدن ونیسي

۱۳۷۹/۰۲/۱۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا څنګه داسې ژر مې ګل اندام له یاده وځي

سهار مې په زړګي ناست وي ماښام له یاده وځي

د چا د نوم په یاد نن شپه په وجد یم راغلی

له سترګو نه مې خوب تښتي آرام له یاده وځي

د یار د وصل دارنګه اثر را باندې لوېږي

د مینې څو خبرې او سلام له یاده وځي

لږ صبر چې راپوخ يې کړمه بیا به يې در چوف کړم

د عشق دا ګوډ او مات منتر مې خام له یاده وځي

د کلي نصواري آشنا د ښار تر ساقي ښکلیه

که وار نصوار دې راکړل بیا مې جام له یاده وځي

تر څو به دې کوڅه کې یم ولاړ ژبون وهلی

تر هغې څو مې هاغه پورې بام له یاده وځي

اف جنګ چې د بهار دا سره او سپین ګلونه واخلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارمان مې که افغان شهيد گمنام له ياده وځي

منزل ته رسېدل مو دي نيولي په نظر کې
خو حيف! چې اراده مو گام په گام له ياده وځي

غزل به څومره ښکلی ؤ که دا غمونه نه وای
چې موږ نه د روسي يرغل انجام له ياده وځي

کمال زما په دې کې دی چې بت نه نه وپرېږم
د خدای په کلمه مې ټول اوهام له ياده وځي

۱۳۷۸/۰۹/۱۰

## باران

په هجر کې چې کله خوږ جانان را په ياد شي
د وصل په اسره زړه کې يزدان را په ياد شي

بې واره مې له خولې کلمه وځي خدايه خير!
پر ماين پوښلې لاره چې اوښان را په ياد شي

له تورو غټو سترگو نه چې اوښکې شي را زېر
د ښکلي وطن شړکنده باران را په ياد شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه لحظه د سولې ښاپېرۍ په خیال کې راشي

په بله د جنګونو تور دېوان را په یاد شي

ملاله به اوس چاته ټپې وايي د میوند

چې تښتي الوتکه کې افغان را په یاد شي

زه څوک یم او څنګه داسې خاورې شوم د پښو

اف ګل یم رژېدلی یم خزان را په یاد شي

ناپامه چې د خیال له شمې تاو شم که پتنګ

چې وسوځم کماله بیا خپل ځان را په یاد شي

۱۳۷۸/۱۰/۲۰

دغه ښار خو په رښتیا چې د ځنګل په څېر یو ځای دی

د چا خوی ګیدړه برخه د چا برخه لوړ همای دی

څوک راضي له خپله ځانه او راضي ترېنه لوی خدای دی

څوک د ځان په ویر اخته دی په نارو او په وای وای دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زما شوه ډېره خوښه زنده ګي د ښکلي يار

زنده ګي د ښکلي يار او سادګي د ښکلي يار

که سر يې د رحمن (ج) په حضور خم شولو يو وار

لښکر کفار به مات کا بندګي د ښکلي يار

دا برګې الوتکې د زړګي ورانوي ښار

که برندې برندې سترګې دي جنګي د ښکلي يار

دا زه چې نن شاعر شومه د حسن د دربار

نيمرخه را ښکاره شوه تازه ګي د ښکلي يار

را ياد کړي د وطن غاټول ګلونه د بهار

چې سره شي له حيا نه اننګي د ښکلي يار

که څه هم خطر ډېر لري له لرې اشارې

خو خوند کوي پر بام ديوانه ګي د ښکلي يار

کمال په ټپه ستايي او منګی وهي کرار

له بر ګودر نغمې دي په شرنګي د ښکلي يار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۷۹/۱۱/۲۵

**لوبې**

یار مه کوئ نور بس دي له خپل ځان سره لوبې

له ښکلي او له ګران افغانستان سره لوبې

د پاکو شهیدانو له آرمان سره لوبې

په لوی خدای د پاخه او کلک ایمان سره لوبې

"د پورته ور توکلو لاړې لوېږي پرخپل مخ"

چې څوک کوي له بر پښنده آسمان سره لوبې

دا ټوکه دې نور نه شي اوږده سترې بې مانا

چې وږی نس مزدور کوي له خان سره لوبې

دا څوک يې؟ يو ځل واخله له روسانو زموږ حال

بیا خوښه دې که وکړې له افغان سره لوبې

د کلي او مالت خلک څه غلي غلي وایي

کمال به لېونی کا له جانان سره لوبې

۱۳۷۸/۰۹/۰۳

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

یاغي شو غم نن له مریو چې کمزوري نیسي

سبا یې ګورئ د همه کلي سرزوري نیسي

پردېس ظالم دی نن یې بیا په وینو ولمبول

د خیال آسونه د اغزو بار ته شاتوري نیسي

سندرې مه بولی قاصد داسې پیغام راوړی

ورا به شي چور او ناوکۍ به آدمخوري نیسي

د څمکې سپین او تور رنګونه یې په زړه جوړ نه دي

عنقا د شعر مې له هسکه راڼه ستوري نیسي

۱۳۷۸/۰۹/۰۳

## یو بیت

چې اور یې په زړګي کې د وطن له غمه بل وي

هماغه مو شاعر د زمانې شو او ادیب شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په سپین مخ د ښایستوکي جانان برېښنده سور خال دی

ته وا سم دستي لوېدلی د شپونکي پوځې ته لال دی

په کنډو کې اوه رنګه د ټیکري پېځکه ښکاره شوه

ماوې دا دی پسرلی شو را مالوم د بوډۍ ټال دی

دا د مینې پیلامه وه چې زړګی په درزېدو شو

ته وا جنګ دی په میوند کې شرنګا شرنګ د توري ډال دی

بس لحظه لحظه تصویر مې د لیلا سترګو ته کېږي

خوب آرام یې رانه وړی تر جنونه تللی حال دی

آدم خان د زمانې یم خپل رباب په کمره ولم

درخو وړی له هر تاره د ژوندون ها سر او تال دی

تور دېوان په ورا راغلي بیا وړه ښاپېرۍ بیایي

ورپسې د خیال په دښتو لېونی غوندې کمال دی

۱۳۷۷/ د زمري ۲۳مه، چک وردګ، اله خېل کلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا زما وړوکي زړه باندې چې غم نه ځایېده

له سترګو بهیر مات شو پکې نم نه ځایېده

افسوس چې مې د خیال په دغه دومره وسعتونو

د ښکلې ښاپېرۍ پکې قدم نه ځایېده

د ژوند کتاب مې واړاوه تمام پکې جنګونه

یو حرف پکې د مینې او د زغم نه ځایېده

د ایسته غورځولو راز یې داسې شو مالوم

په جېب کې یې کلدارې وې قلم نه ځایېده

په تول که تلل کېږي نو له سل خرواره اوړي

اف نه کابله ستا په غېږ ستم نه ځایېده

۱۳۷۸/۰۵/۰٦

## غزل

دا څومره بې مزې او خوندوره زنده ګي ده

لحظه کې را پخلا او مروره زنده ګي ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړونو پر صحرا چې زغلوو د جنګ اسونه

همدغه زموږ خوښه راته غوره زنده ګي ده

کرل دي او رېبل دي خو پرې ونه پوهېدو

چې مینه محبت کې څومره غوره زنده ګي ده

غینګۍ وهي آخر به ځان ور واچوي پخپله

د ګور تر څنګه زانګي مینجوره زنده ګي ده

د درد په سره بټۍ مو زړونه ځکه کرار اینښي

له یار سره شریکه بې باوره زنده ګي ده

د ښکلو ښکلو پېغلو د سرو سترګو عکس دې واخیست

چې شپه او ورځ دې شور کې سمندره زنده ګي ده

یو وخت ؤ چې مجنون ورته ویلي وو پټ غوږ کې

کماله د لیلې هره خبره زنده ګي ده

۱۳۷۹/۰٦/۳۰

## غزل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو د اوښکو تسلسل دی د کابل د مړي وير کې

د جنګونو اور کې نغښتی د مجبور په رنګ مې يار دی

بس د خدای له مينې پرته آدم زاد ته غاړه نه ږدي

دا چې دار ته مخامخ دی د منصور په رنګ مې يار دی

چې په زړه مې خوږ لګېږي خدايه ته يې راته ساتې

د شمال له تاکه ځوړند د انګور په رنګ مې يار دی

دا زما د ذهن رنګ دی او زما د خيال تصوير دی

دا زما د زړه خبرې د منظور په رنګ مې يار دی

تکې سرې سترګې يې دواړه قصيدې دي زر بيتونه

د غزل په شان موزون دی د مخمور په رنګ مې يار دی

که ښکلا خوشالي بولې او بدرنګه ټول غمونه

نو کماله بخت مې ويښ دی د سرور په رنګ مې يار دی

۱۳۷۹/۰۵/۱۲

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

خدای خبر څنگه ستا د سترگو او زړگي له وېرې

پېغلوټو پورته کړل اوږو ته خپل منگي له وېرې

لکه مېږی د غم سېلاب واخیستم وړي مې یاره

په یوه وچه پاڼه ناست یم د مرگي له وېرې

زه به د امن ترانې څنگه په شرنگ ووایم

زما جانانه چې دې سره شي اننگي له وېرې

لکه شاتوت ونه د زړه وینې په تاسو خورمه

د نصیب لاس کې ځلېدونکي تبرگي له وېرې

خدایه نجات غواړم له کفره زړه ته لاره باسي

ځکه را یاد شي د صنم د بنده گي له وېرې

۱۳۷۹/۰٦/۰۳

## غزل

زه خو ساده د غره کوچۍ وم یاري څنگه کېږي

د التفات را اړولو یاري څنگه کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تورو غرونو ښویېدلی کاڼی زړه لرمه

د یار کوځه کې نرم شوی باري څنګه کېږي

چې بې له خدایه مې د هېچا پروا نه ده کړې

نو مرور جانان ته وایه زاري څنګه کېږي

څه عجیبه غوندې حالت مې ټول وجود نیولی

د غره او سمې محبت خماري څنګه کېږي

د ژوندون ګرځنده کماله راته دا ووایه

په غره لوی شوی بنیادم به ښاري څنګه کېږي

۱۳۷۹/۰٦/۳۰

## غزل

ترخه ښه نه دي یاره قند نبات را واړوئ

د زهرو پرځای لیپې لیپې شات را واړوئ

یو بند د غزل ښکلی کړئ د حسن په یوسف

او بل یې زلیخا ته اشارات را واړوئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په برندو برندو سترګو څنګه زړونه کړو زهیر

کاته د محبت په التفات را واړوئ

ایمان څه دی؟ بس خدای ته د اخلاص یوه سجده

اورونه په پیرو د لات منات را واړوئ

د اوښکو نذرانه پرته له ویره ده نور څه؟

میړونو خوی د ښځو له صفات را واړوئ

۱۳۷۷/۰۷/۱۲

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په شونډو کې موسکۍ نغمه سرای را یادوي

ښایست یې عجیبه دی زړه کې خدای را یادوي

دا تور چاینک له مخې لرې کېږده نن آشنا

د لوړ چینار تر سیوري لاندې چای را یادوی

د شنو سترګو خاوندې ته چې ګورمه شم خوښ

د سرو روسانو تېښته کې "دوای "را یادوي

د کلي د خان زوړ واسکټ مې نه شمه لیدای

د ښکلي کابل سترى نان ګدای را یادوي

کماله خیال ته وایه د پامیر څوکې پرېږده

چې ماته مې د تېر برم همای را یادوي

۱۳۷۸ � لیندۍ

## کوچیانۍ مینه

څه خوشالي به زموږ خوارو په وطن کې راشي

چې ناوکۍ خاورې په سر زوم په کفن کې راشي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يارانو لاس نيسی صهبا به له جنته راځي

که تلوسه د شهادت مو په بدن کې راشي

د رابعې (رح) یاد به تازه کا د وطن پېغلوټې

که رياضت يې بس په سترګو د ديدن کې راشي

په کوچيانۍ مينه وېربېرم ماين يې ونه وهي

که لوړ اوښان د شنو غونډيو په لمن کې راشي

په يوه ګولۍ د سولې سل او زر کوترې لګي

سپينې بڼکې يې له پاسه په چمن کې راشي

کماله جار شم لا تر اوسه دې رنځوره مينه

لکه وږه ښاپېرۍ زړه ته په ختن کې راشي

۱۳۷۸/۰۵/۲۰

## د درد له ښاره د فرياد تر کلي

په زړه مې څه ماشومه تمنا راوړې وه

لاله شونډو د يار ته مې موسکا راوړې وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلکه څه مو خيال دی لېونی نه وم نشه وم

له ښکليه له ساقيه مې صهبا راوړې وه

سنګدل صياد خندل چې وې کاته ټپي بدن

ټوکرۍ د غم د غشو مې پر شا راوړې وه

که اوښکې په رښتيا وای د باران په څېر خوږې

صحرا د ګرېوانه بې مې ګيا راوړې وه

افسوس دی ما وې روغ به شم له رنځه د هجران

د زهرو يوه نمړۍ مې په دوا راوړې وه

د سمې په غلو واوښتم را پرې يې نه ښوده

د غره له هسکې څوکې مې امسا راوړې وه

د درد له ښاره راغلم د فرياد په کلي مېشت

کمال دی له ظلمته مې ښکلا را وړې وه

۱۳۷۸/۰۴/۱٦

کابل پوهنتون، مرکزي ليليه

## غزل

عشق وې چې لمبې کا د سره اور په شان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه زړه دی ګرم د لاهور په شان

څه به حد جاري کا دا ضمیر امام

غلو سترګو یې لال زړه وور د پور په شان

مه را یادوئ د ښکلي یار هجر

بد را باندې لګي د پېغور په شان

لوی وینم وړوکي لوبې وکاندي

ډېر واړه را ښکاري د ټایګور په شان

زور منم ببېشکه چې یزدان لري

نور مخ په زوال د څټک لور په شان

ډېر راته دا دواړه عجیبه برېښي

غم دی له کمال سره د ورور په شان

۱۳۷۸/۰۴/۲۰

کابل پوهنتون، مرکزي لیلیه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ورکه

له نورو څه کوي، له ځانه مې هم کرکه راشي

چې د وفا د تلې خوا مې د يار د سپکه راشي

داسې ياري به د عرش خدای په آفرين وستايي

چې د زړو خونې په يقين پاکې له شکه راشي

زه که هر څو وايم چې لور د يزدان دی پر ما

غريبان وايي دينار څه رنګ له فلکه راشي

چې يو او بل ته مو په ښه خبره ملا ماتېږي

خدای مه کړه ښکاري نن سبا کې به مو ورکه راشي

غزل مې نن دې ښکلو ښکلو سينګارونو وخوړ

حيا يې بس له سره پېزوان او له چسپکه راشي

سنبله ۳۰- ۱۳۷۸

## د ايمان خبره

چې زلمي د شهادت له خوږ آهنګه سره اوسي

خيال د حورو د جنت کا له پالنګه سره اوسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سودايي شمې په اوښکو د بېلتون ناره خوره کړه

د شپو توره سيلۍ راغله له پتنګه سره اوسي

د بابا د دنګو څوکو زمريه چېرې ولاړې

يو ګيدړ غليم را بلوسي له نيرنګه سره اوسي

له هغو به څه ډارېږو چې په باټ مرض اخته وي

چې په وچه د اوبو له مږه نهنګه سره اوسي

چې په زړه يې ايمان نه وي څه د تورې سړی نه دی

سره کفار خو داسې ډېر دي له تفنګه سره اوسي

د يزدان امر به هله پښتانه تر سره کاندي

چې سورۍ سينې د کفر له خدنګه سره اوسي

په ګودر د جونو شور ؤ، څه تېپې مې واورېدلې

په کمال ديدن حرام دی له بې ننګه سره اوسي

وږی ۲۲- ۱۳۷۸

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ویر مو خوراک دی له یارانو فراموش پاته یو

دا چې په سپینه ورځ له یو بله روپوش پاته یو

په خوله څه نه وایو د زړونو راز په سترګو وایو

ځکه بې زړه یو د ګلرخو له آغوش پاته یو

د یلدا شپه ځومره اوږده شوه سباوون نه لري

د زلما خوب مو زنګوي ورته مدهوش پاته یو

ځوښ د تکبیر مو په خوله وچ شو او روپۍ واخیستو

د شهادت له قافلو نه وطن فروش پاته یو

وایو په سترګو شوو چې لاره مو کړه خپله ورکه

بس د لټانو مجموعه د ژوند په دوش پاته یو

کماله داسې نازولو د وطن ته وایه

میرخی مو ناخي له خوښیه موږ خموش پاته یو

۱۳۷۸/۰۳/۰۱

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل پوهنتون، مرکزي ليليه

## غزل

لکه بلبل چې په يوه ناره گلزار ونيسي

داسې د ښکلي يار نغمه د زړگي ښار ونيسي

ستا په راتللو خپه نه يم غرنيه آشنا

خپه په دې يم چې د سمې غله به لار ونيسي

کوډگره حسنه لږ زمونږ پر سيمه گام را واخله

چې پاړوگر د عشق کوڅې ښامار ښامار ونيسي

زمونږ پر کلي به خوښي دوباره هله راځي

چې د گودر غاړې منگي کتار کتار ونيسي

نه مو ورمه د بهار حس کړه نه د ښکلي سهار

د محبت څانگې به څه رنگ د گل بار ونيسي

که دې کاته د محبت وو ښايسته جانانه

کمال به شعر د چامبېلو درته هار ونيسي

۱۳۷۸/۰۲/۰۵ -کابل پوهنتون، مرکزي ليليه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یو خوب یوه کیسه

کیسه ده خوب ته راشي دوامداره غوندې وي

د حسن شهزادګۍ ډېره بیماره غوندې وي

د اوښکو راڼه څاڅکي يې د ګل پر شانې مخ

ښويېږي کښته پرخه د سهاره غوندې وي

تاوجن آهونه باسي له سلګیو وي همراه

د یار په انتظار کې ناکراره غوندې وي

د خضر(ع) د حیات د چینې راوړي څوک اوبه

خو نه يې څښي یارانو څه هوښیاره غوندې وي

"که ګوته له جامه اخلم نو ژوندون دی د ابد

نو څه به يې مزه وي چې بې یاره غوندې وي

یو مرګ په پټ کې ښه دی نه د زرو کالو ژوند"

له زیسته څه بېزاره څه دینداره غوندې وي

د حسن کرشمې يې غزونې کا تر زړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولو سهیلیو کې سالاره غوندې وي

په ویښه مې تعبیر ویل آشنا مه کوه غم

د خوب کیسه جادو کا اداکاره غوندې وي

۱۳۷۸/۰۴/۱۷ -کابل پوهنتون

## غزل

د هر غزل یوه مسره شاعرانه وړاندې ځي

لکه ګودر ته چې پېغلې مخې مستانه وړاندې ځي

په بر کنډو دېوان نښتي تور او سپين نه ګوري

یار که هوښيار نه وي نو خدايه دیوانه وړاندې ځي

زما جانان په زړه صادق دی "نه" به ونه وايي

د اور ډېرۍ ته بس په نيمه اشاره وړاندې ځي

پخپل وطن يې د څه ټېکې ځای ونه مون ربه

د افغان کډه په کوم لوري بيهوده وړاندې ځي

د هجر شپه څومره اوږده شوه زما لويه خدايه!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره لحظه د انتظار له کال اوږده وړاندې ځي

پاس د غونډۍ پر سره وږه ښاپېرۍ خیال ته راشي

لاندې ماینونه دي، کمال خرامانه وړاندې ځي

۱۳۷۹/۰٦/۱٦

## خوب

کافر خوب مې لیدلی بیا څه چل غوندې ښکارېږي

لوی ویر د زړګي تخت نیسي کارمل غوندې ښکارېږي

په ذهن مې بوج راوړم پسرلي يادونه نه وي

خیالونه مې تورتم کې یرغمل غوندې ښکارېږي

ورځم د آشنا کلي ته خو لار مې ورکه کړې

هر موړ د کړو لارو مې اجل غوندې ښکارېږي

مېلمه د هسکو ځوکو د جونګړې شم ناپامه

له وېرې زړه رپېږي کوربه غل غل غوندې ښکارېږي

په مېنه مې له پاسه چا ړوند بم وي ګوزار کړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مینې کور مې سوي وران مورچل غوندې ښکارېږي

له لرې د خوارە آشنا کوکارې اورم څمه
خو پښې وي پردۍ شوې پل مې شل غوندې ښکارېږي

کمال سرکشه مات کړل رویات د خوب ویلو
تعبیر د زمانې د پیر بدل غوندې ښکارېږي

۱۳۷٦ -غویی

## غزل

پستې پستې خبرې او د سترګو جنګ کې ژوند
زموږ د زړه آرمان دی د دلبر په څنګ کې ژوند

دا خوی د مېړنو مې ډېر خوښېږي په والله
د تورو په پړکا کې د وطن په ننګ کې ژوند

هر تیت پرک اولس ته په بدل کې ورکړ خدای
د اوښکو سمندر، خپته د غم نهنګ کې ژوند

های کاشکې مې لیدلی وای د خپل وطن یو ځوان
چې ببرته را په زړه کا د ځوانۍ په رنګ کې ژوند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قمار د محبت مې بایلولی دی یو وار

نو ځکه خوښ مې نه شو د روپۍ په شرنګ کې ژوند

۱۳۷۹/۰٦/۱۷ -پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ځم د ژوند خمار لټوم لپه شراب پور غواړم
ځکه خو له خدایه میکده کې ساقي ورور غواړم

های منصوره ښکاري ستا د یون لاره مې ونیوه
بیایي مې چې دار ته زه د هاغې مینې تور غواړم

بېرته چې خواږه توتیان یادونه پرې را والوځي
بڼ د تخیل مې په رنګین سپرلي سمسور غواړم

ما په کاڼو وولی له ښاره مې بیا وباسی
زه د لېونی مینې سینه کې هاغه شور غواړم

خدای په سر شاهد دی چې درواغ مې په خوله نه راځي
خوله مې دې شي ماته که به زه یار ته پېغور غواړم

یه د همه حسن ربه سر به نذرانه درکړم
بس لحظه دا خوږ جانان د خیال په نیلي سپور غواړم

یاد چې د ناهیدې ښاپېرۍ بېرته تازه کاندي
پېغلې کابلۍ ته مې ګاڼه د ایمان زور غواړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۹۸/۰۵/۰۵ -پېښور

## غزل

غزلو کې راځي او په لنډيو کې راځي

هر ياد يې که بهار په ګل غوټيو کې راځي

هوسۍ اروا په ترهه شي د تېښتې ګوري ليار

صياد جانان د خيال په شنو غونډيو کې راځي

د عشق بنديخانه وي شرنګا شرنګ مې شي تر غوږ

دلبر وي غلی غلی په بنګړيو کې راځي

دا سپين مخ يې له تور پوړني داسې شي ښکاره

سپوږمۍ لکه د شپو په تروږميو کې راځي

د تورو جټو زوږ مې کا له حاله غير حاضر

د کلي ښاپېرياني په نانديو کې راځي

سپرلی په څه نخرو راوړي تک سره غاټول ګلان

خوږ ورږم يې د پېغلو په څونډيو کې راځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خيال د غرو لمنې وي هاى هاى وي د کوچۍ

ساده مينه د زړه طور ته کېږديو کې راځي

په هجر کې نور څه دي؟ بس يو خيال څو خاطرې

محل ته مې د ذهن په سياليو کې راځي

۱۳۷۷/۰۹/۱۲ -پېښور، نوتيه، کرايي کور

## غزل

سلام چې د حسينو له بلاده نه راځي

که ورېم چې د ورک انځر له باده نه راځي

د خيال کبلۍ اروا کړه مالومدار غشي ټپي

خبر مې له خواږه جانان صياده نه راځي

د هجر ناکردې وې شوم په ورکو لارو سر

د زړه په پېچ او خم کې مې آباده نه راځي

"د زهد او تقوا راته مالومه ده ښه ليار

خو څه وکړم سجده مې له بنياده نه راځي"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر پل مې په ګناه ایښې د وخت شوه تقاضا!!

لږ شرم د پیرانو له ارشاده نه راځي

د زړه د کوڅو روي يې هر وختې ژړوي

له ويره د ديدن آرزوګۍ ښاده نه راځي

کمال يې په غزلو د ستاينې دی لېوال

پې مخې يارانه بل څه کې ياده نه راځي

۱۳۷۷/۰۹/۱۰

## غزل

ډېرې راپاته دي په درويشت کاله جنګ کې باروت

الله تمام کړې نور د سولې په يوه رنګ کې باروت

زموږ امير، زموږ امام، زموږ جنرال پرېښودل

هم په شمال هم په جنوب هم په سالنګ کې باروت

بس دا وطن د هغه چا شو چې يې ډېر ولرل

د نفرتونو، بد بينيو پخپل څنګ کې باروت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د زلمیو سر او کار ورسره نه وای نو بیا

پېغلو به نه ستایل سندرو په آهنګ کې باروت

د نسواري آشنا د لاس د غوټېدو وېره ده

د تمباکو په خیال یې واچول آونګ کې باروت

کماله دلته د یو څو کسو سلا پرې شوې

چې ځوانۍ واخلي له ولسه په قلنګ کې باروت

۲۰۰۱/۱۱/۰۲

## پسرلی

لمر نه دی غلت مو د خوبونو ها تعبیر دی

دا خو اور اخیستی هسکې څوکې د پامیر دی

مه راځه سپرلیه د راتلو لیارې دې نه وینم

تاو ترې تور دېوان دي ښایسته وطن اسیر دی

مورې خو د سهار ستورې په تور افق کې نه وینو

تا بیا د راتلو نیولی څه شانې تدبیر دی

ګل خو د بلبل له سندریزو غاړو ساه اخلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دي کاغ، کاغ نارې تور زاغ مو د باغ مير دی

تا به ګلان راوړل ما به هار ترې جوړ کا يار ته
اوس به ګلان څه کړم شکسته د عشق زنځير دی
دلته پسرليه ګل د هار لپاره مه راوړه
ګران آشنا مې ورک دی په زړه بريد راوړی وير دی

تپ او تور ژوندون شو چې په خيال کې چېرته نه راځي
غم له زړګي وړی د خواږه جانان تصوير دی

وير په ظلم زور له زړګي وکښه د ځوانۍ نشه
دا کمال سپرليه نن په ځوانه ځوانۍ پير دی

۱۳۷٦/۰۱/۰۱

## ؟

وينه د افغان زلمو سيندونو کې راځي که نه ؟
پېغلې له ګودره په آهونو کې راځي که نه ؟

دا چې نفرتونو پکې ځالې جوړې کړې دي
ياد د محبت به کله زړونو کې راځي که نه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور چې د غضب ترې را ورېږي دا مو سترګې شوې

چېرته به نو مینه نظرونو کې راځي که نه؟

ډزې شوې، خوښي زمونږ په ویر باندې بدله شوه

غم خو ډېر آسان داسې ودونو کې راځي که نه؟

نن چې نیم په نیمه شل او شوټ یو ملامت نه یو

نیم ژوندون خو داسې په ماینونو کې راځي که نه؟

خوب کې له مزاره یوه د سولې قافله راتله

ګورئ د سالنګ په کږلېچونو کې راځي که نه؟

صبر چې شلمه پېړۍ کومه کارنامه لرو

ماتې به د سره ښامار یادونو کې راځي که نه؟

ځانګې ځانګې وچ کړمه د یار د جدایی خزان

بیا بهار د وصل موسمونو کې راځي که نه؟

مانو ښاپېرۍ د قاف د غرونو چېرته ولیده

بی نو کله کله خو خوبونو کې راځي که نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاو مې له زړګي چیچن د درد روسۍ لښکرې شوې

مرستې ته یې څوک په همتونو کې راځي که نه؟

موږه له ویرونو له مرګونو ستومان شوي یو

یوه نیمه ټپه خو به شعرونو کې راځي که نه؟

۱۳۷۸/۱۱/۲۵

## غزل

صبر کیسه کوم د هجر که مې هېره نه شوه

یاره شپېبه له غمه پرته پر ما تېره نه شوه

که نن ګیدړې مایوسۍ په برېتو لاس را تېر کړل

ته ترې وېرېږه مه خرګنده ده چې شېره نه شوه

وایي د کلي له یو نیم میلیونه ستورو ډکه

دا هدیره ده خو له خدایه د چا وېره نه شوه

زما په زړه خو له حسرته ځکه اور بلېږي

چې ستا پر زړه له کرکې پرته مینه ډېره نه شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس تمام عمر دې تندې ته ګورم حال دې اخلم

په پټه خوله دې ښکلیه مینه را برسېره نه شوه

زموږ تر منځه به بیا غرونه غمازان ولاړ وي

کماله پرېږده دا خیالونه چې راګېره نه شوه

۱۳۷۸/۰۸/۰۵

## غزل

نه هارون رشید یمه او نه د وخت یزید یمه

زه د شاعرانو د کاروان د پیر مرید یمه

ماته خدای تحفه جنون د شعر په زړګي راکړ

لام د مصرو کاږم پرې او زه د عشق نوید یمه

راوړئ سپېلنی غزل له سره یې را تاو کاندئ

زه نظر وهلی د باګرام د سترګو دید یمه

حال مې خپل جانان ته په تېر عمر ښکاره نه کړای شو

بس پخپله ګونګه ژبه ټول شهید شهید یمه

مه راغاړې وځه یه د حسن ګل اندامې نن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کمال ټېپي د تراباں د ګرز په برید یمه

۱۳۷٦/۰۳/۱۳

## غزل

زور د واړه بیهاڼ د ښو لوېدلي آس کې نه وي

داسې ایمان په زړه کې ځای لري لباس کې نه وي

چې زړه نازړه یې کلمه وي ترېنه لرې ګرځه

مؤمن سړی داسې په وېره په وسواس کې نه وي

که تور رنګونه خوښوي نو لېوني یې ګڼه

دا د زړه کار دی بې اختیاره چې په لاس کې نه وي

نیت د کعبې د زیارت وکړې میخانې ته ولاړ شې!

بنده در پېښه واقعه ستا په احساس کې نه وي

دا اوښکې څله تویوې د ملنګانو میرې

پر بې وفا آشنا اثر په دې بړاس کې نه وي

کماله اور د نفرتونو به مو لولپه کړي

د مینې څاڅکی که د زړونو په ګیلاس کې نه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنوري - ۲۰۰۱م

## غزل

لاس تېوې په خوله ښېرا کوې او نه مې وينې

وای پر تا څه وشول جانانه زه دې څنگ ته ناست يم

د مازديگر زېړيه لمره په کنډو درېږه

نن د گودر د مستو جونو خوږ آهنگ ته ناست يم

بيا تور دېوان په ورا راغلي ښاپېرۍ به يوسي

د آزادۍ ناوې به پورته کړي زه بنگ ته ناست يم

تمامه ورځ مې لټولې خو پيدا مې نه کړې

تمامه شپه دې د يادونو پير ملنگ ته ناست يم

زما يې لاس تر شا تړلي ننداره يې کوم

دا د چا کار دی چې د خپلو ورونړو جنگ ته ناست يم؟

زمانه واوښته د مينې مکتب بند پاتې شو

د چپړاسي بابا په وينو لژند زنگ ته ناست يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل شهيد شهيد وطن مينه پرې نه ماتېږي

که په زر وارې د کشمير د ښايست رنګ ته ناست يم

جنوري � ۲۰۰۱م � پېښور

## غزل

وړوکې بې پروا غوندې ساده وه ښاپېرۍ

له ژونده بې خبره ناديده وه ښاپېرۍ

د مينې په دښت خوځنده سراب ؤ مخامخ

په اور کې د منزل په لور پياده وه ښاپېرۍ

د ټول جهان له کرکې او حسد نه بې پروا

د لوی خدای په دربار کې په سجده وه ښاپېرۍ

واخ کوم ظالم ښکاري ورپوله په يو درز

زموږ د غرو رغونو پرنده وه ښاپېرۍ

د سرو سترګو خاوندې پرون بيا ؤ کړی نيت

د کوم زړګي د لوټ په اراده وه ښاپېرۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

میکروب یوه ذره وي پهلوان را چپه کړي

وسواس یاره همداسې مسلمان را چپه کړي

افسوس چې ور مالوم نه شو د خپل لستوڼي مار

که نه نو داسې څوک شته چې افغان را چپه کړي

ته نرمه غاړه نیسه د نادان تربور په تور

آخر به د کینې له زوره ځان را چپه کړي

یو آه د مظلومانو به که نن وي که سبا

دا لوړ آسمان له قهره د یزدان را چپه کړي

زما په خیال ددې اولس همدغه شو جهاد

چې زړه کې د نفرت ایښي بتان را چپه کړي

دا یو غزل کماله خدایږو بس دی او که نه

چې تور دېوان د مینې په میدان را چپه کړي

## غزل

څوک شته چې وکړي ددې غرونو او غونډیو حساب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ترپنه لاندې شهيدانو شازلميو حساب

سږ وچکالي ده را به نشي د کوچيانو کډې

که نه شمېرلو کې به زده ؤ په کېږديو حساب

بهار که نه راځي دې چم ته څه ګيله مو نشته

خو ډېر کلونه دی پرې پاته د قمريو حساب

ځکه خو ټول ترې بس څلور کونجه دنيا ته ولاړل

د مړو واوښت په دې ښار کې په ژونديو حساب

د کمپيوټر په حافظه باندې به اور ولګي

که څوک ور واچوي زموږ د څو زړګيو حساب

که د نادان سړي دوستي د چا په کار راتللای

خلکو به نه کا د هوښيار په دښمنيو حساب

کماله ستا له کمالونو به يو دا ګڼمه

که د چم جونو دې غزل کړ په لنډيو حساب

۲۰۰۱/۰۲/۱۴

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کاروان د خيالونو پر ځمکه

## ګران کاروان ته

د سپينې سپوږمکۍ په ځېر به شپو کې لاس ته راشي

که پاس نه وي ضرور به په اوبو کې لاس ته راشي

دا سور زړه مې د سره او ياغي اس په شانته ورک شي

د يار د برندو سترګو په کتو کې لاس ته راشي

يو خيال تر کوچو سپين غواړم وړې ښاپيرۍ تم شه

کېدای شي ستا د سپين مخ په شيدو کې لاس ته راشي

انځور د مېړنيو د تاريخ خو ډېر آسان دی

د ننګ د ملالۍ په دوو ټپو کې لاس ته راشي

کاروانه د غزالې "ښاپېرۍ ورغوی "ګورم

که خدای کول الهام به پښتو کې لاس ته راشي

۲۰۰۱/۰۲/۱۵

## غزل

زما خيال دی هغه ځوک چې له زړګي رنځور نه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله به ماته په سوال نه کړي چې بې وسه مجبور نه وي

ته لږ تم شه بيړه مه کړه ځو خبرې مې په زړه شوې
ستا کارونه د دنيا به ياره دومره ضرور نه وي

د عادت او عبادت تر منځ همدغه تفاوت دی
عبادت د خدای لپاره په عادت کې سرور نه وي

د ايمان په مرغلرو ښايسته زړګی د چا دی؟
دا پوښتنه ځواب نشي تر هغې چې منصور نه وي

ځناور وي به وي، اف نه نه ځناور په دې پوهېږي
ځوک چې خپل کورته اور واچوي دده به شعور نه وي

له قاصد نه مې زړه بد شو وېل يې ها مزې به نه وي
د شمال له شنو تاکونو به را ځوړند انګور نه وي

ته د ځان لپاره ژوند کې رنګينۍ غواړې کماله!
ځان رښتيا تر ټولو خوږ وي خو دا خوی د باتور نه وي

۲۰۰۱/۰۲/۲۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

نن بیا د سپین لستوڼي په تور لاس دی تېروتلی

په خدای چې دا افغان خو په لباس دی تېروتلې

هماغه اقتدا په خردجال پسې ده کړې

د سپین اسلام په خیال چې په وسواس دی تېروتلی

د شل او شوټ انسان د زړه درزا مې چې محسوس کړه

همدغه یې ویل د جنګ په آس دی تېروتلی

زموږ د ژوندون بیه یې په پټو سترګو وکړه

د اوښ په پچه واوښت په الماس دی تېروتلی

یارانو د کمال به تر دې لویه سزا څه وي؟

هر ځل چې د کوم ښکلي په احساس دی تېروتلی

۲۰۰۱/۰٦/۱۲

## دښمني

چې سترګې غړوو نو هرې خواته دښمني ده

د لوړو لوړو غرونو مخکې شاته دښمني ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږه کاروبار د ژوندون څه دی خوږه یاره
همدغه چې يې وپالو راپاته دښمني ده

د مينې محبت په بدل چا په انعام راکړه
د کرکې د نفرت د دېو له ذاته دښمني ده

عادي يو، غم يې نه کړو او حيران به ورته نه شو
ګټلې مو په سوبه او په ماته دښمني ده

د سره ابليس اروا ده که د تور ابليس اروا ده
ويروس ته هوبهو په صورت پاته دښمني ده

که څوک د پردۍ ګوړې او خرماوو رانه پوښتي
زه وايم چې له دواړو نه ځان ساته دښمني ده

کمال ته يوه ملنګ د راز په ژبه داسې وويل
غزل ته پام لره ګني سبا ته دښمني ده

۲۰۰۱/۰۹/۱۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د خدای بنده خومره پرېشانه او دلگیر دی روان

بیا د پنجاب په مزدورۍ پسې فقیر دی روان

په سره غرمه کې چې یخ سیوري ته چا پرې نښوده

مساپر خدای ته ځان سپارلی په تقدیر دی روان

چې نصیحت یې مریدانو په ډاگ وغورځاوه

د مایوسۍ په انتها کې غره ته پیر دی روان

د زنځیرونو په شرنگا ویښ شوو یو چا نارې کړې

دا خو زندان ته د حریت په تور اسیر دی روان!

مورې د خیالونو په اټک غوښتل پاټک واچوو

خدای مکړه ښکاري چې له لاسه مو پامیر دی روان

زما چې خومره په یادېږي بس همدا کیسه ده

د خوشالیو پرځای دې وطن کې ویر دی روان

۲۰۰۱/۱۰/۰۱

## بدبختي!!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وخت ناوخت د ژوند په لاره څوک سوکان خوري اشنا

د سودايي په څېر به رېره او نوکان خوري اشنا

د خيال د توت په لوړه څانګه ستا غمونه راشي

لکه مچۍ چې شات ونکړي او توتان خوري اشنا

موږ اورېدلي وو حيران وو هندوان مړي سيځي!!

اوس حيرانېږو نه انسان که بل انسان خوري اشنا

خصلت د هر سړي د خپل راتلونکي غم بدل کړ

په نه خبره به په دوه پيسو ايمان خوري اشنا

دلته د څو کسو تر مېنځه مصلحت داسې ؤ

ثمر زموږ خاورې ايرې دې غريبان خوري اشنا

د هغه قام به تر دې لويه بدبختي کومه وي؟

مات شي سوګند د خدای په کور چې يې مشران خوري اشنا

۲۰۰۱/۱۱/۲۳

## غزل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خيال کې راشي چې پرېشانه سرګردان وي روان

بيا د اور منځ کې د خليل په څېر افغان وي روان

د زمانې د وحشتونو بل توپان په تندۍ

د سره توپان په څېر په ګران افغانستان وی روان

زموږ د ژوند تر ټولو ستره بدبختي همدا ده

بس ورپسې شو که انسان وي که شيطان وي روان

ښايي د مينې له وجود نه انکاري شي خلک

که مو ژوندون د نفرتونو په داستان وي روان

خوب مې ليدو چې خردجال د جنت زېرى کاندي

په پټو سترګو ورپسې ډېر بينايان وي روان

کماله خدای خبر چې څوک به داسې ووايي بيا؟

هره شېبه مې د زړګي پر سر جانان وي روان

۲۰۰۱/۱۱/۲۵

## غزل

د خوشال بابا په کرښه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را لوېدلی د نفاق له لوړ ګرنګ دی

دا افغان ځکه پخپلو وینو رنګ دی

د خوشال باب وارث هم خپلو وویشت

له سینې نه یې ختلی بوټ خدنګ دی

له مغل د زمانې نه مو ډار نشته

که ډارېږو له اشنا چې مو تر څنګ دی

سیخه لاره پرې ودان وو د ویاړ ځلي

پرې ور پېښ شو هر یو ګورو چې را ړنګ دی

پنج و ګنج او تر قدوري پورې محدود شوو

کمپیوټر کافر مو ویشتی بیا په سنګ دی

د ناچاودي بم په شک ترې لرې ګرځو

د یار زړه دی، که تور کاڼی د سالنګ دی

له ورمو نه ډېر کلونه محروم پاتې

رانه وړی سرو اورونو خوږ لونګ دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر د خپلو اوښکو کې لاهو یو

راپسې د مایوسیو، غم نهنګ دی

خو افغان که هر څو وخوري ګوزارونه

یرغلګر ته به سر ټیټ نه کړي پلنګ دی

۲۰۰۱/۰۹/۲۵

## غزل

خدایزده څه شی نشته چې په پېغلو کې جمال نشته

یا یې غوڅ شو تور پېکی او یا یې پرسر شال نشته

وسوه د سندرو شین خالۍ مو د فراق په اور

وای غزل نیمګړی شو په سپینه زنه خال نشته

تور د جنګ ښامار له سره وطنه را چاپېر شولو

وایي لال زما دی نه منلو کې یې سوال نشته

"خلکه ما د سولې نیلی بیامونډ شاباسی راکی

نور هرڅه پوره دي بس یو آس او درې یې نال نشته"

دا منم بېشکه چې هغه دنیا دوزخ لري

څوک وایي چې دلته دوزخ نشته پشه کال نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر شول شل کلونه له مایوسه انتظار سره

بس دا مو نصیب دی د خوښیو نوی کال نشته

تشې دي سینې پکې د زړونو درک نه لګي

یا که زړونه وي هم پکې وینه د کمال نشته

پېښور ۱۹۹۷

## غزل

دا چې نن توپیر مو د ودونو او خیرات نشته

ویر یرغل راوړی د خوښیو هغه سات نشته

وګورئ چې پیر یې خپل مرید په وینو رنګ کړلو

ښکاري خلکه نور مو د پیرانو برکات نشته

خلکه خوښي مه کړئ دا سپرلی هم دی د تېر په شان

تړی بورا ګرځي او د ګل شیره کې شات نشته

لاندې را غوځار شوو د نفاق له ګړنګونو نه

ټول ټوټه ټوټه یو لا خو وایو مونږ کې مات نشته

خدایه ځنګه چوپې د آذان نارې په کلي شوې

بیا امام شهید شو، که منار روغ په جومات نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوتې يې قلم کړې او د زړه په سرو يې وليکل

چاوې له کمال سره قلم نشته دوات نشته

۱۹۹۸ -فبروري، پېښور، پښتونخوا

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library